د افغانستان اسلامي جمهوريت

دلــوړ زده کړو وزارت

# قانون تحصیلات عالی ملکی

**تاریخ نشر: (۹) عقرب ۱۳۹۴ هــش - نمبر مسلسل ( ۱۱۹۵)**

- **تعــدیل، ایــزاد وحــذف برخــی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی**

تاریخ نشر: (۲۵) سرطان ۱۳۹۶ هــش - نمبر مسلسل ( ۱۲۶۵)

- **تعــدیل، ایــزاد وحــذف برخــی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی**

تاریخ نشر: (۱۱) حمل ۱۳۹۷ هــش - نمبر مسلسل ( ۱۲۹۷)

**۱۳۹۸هــش**

دافغانستان اسلامي جمهوريت

دعدليې وزارت


# رسمي جريده

فوق العاده ګڼه

## دملکي لوړو زده کړو قانون      قانون تحصیلات عالی ملکی


دخپرېدونېټه:د۱۳۹۴ هـ.ش کال د لړم دمیاشتې (۹)

پرله پسې نمبر:( ۱۱۹۵)

تاریخ نشـــر: (۹) عقرب سال ۱۳۹۴ هـــ . ش

نمبر مسلسل: (۱۱۹۵)

| | |
|---|---|
| د امتیـــاز خاوند: | دعدلیـــې وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمـــم:محمد جان | ۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

**قیمت این شماره:** (۵۰) افغانی

**تیراژ چاپ:** (۳۰۰۰) جلد

**مطبعه:** بهیـــــر

**آدرس:وزارت عدلیه، ریاست نشرات‌وارتباط‌عامه، چهارراهی پشتونستان**

شماره: ۷۴
تاریخ: ۱۳۹۴/۹/۱۱

# فرمان تقنینی

## رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

### در مورد توشیح قانون تحصیلات عالی ملکی

مادۀ اول:

به تاسی از حکم مندرج مادۀ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، قانون قانون تحصیلات عالی ملکی را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۹) مورخ ۱۳۹۴/۶/۴ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردیده، منظور می دارم.

مادۀ دوم:

وزیر عدلیه و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، این فرمان را در خلال مدت (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسۀ شورای ملی به آن شوری تقدیم نمایند.

مادۀ سوم:

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبۀ کابینه و قانون مذکور در جریدۀ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

د افغانستان اسلامی جمهوریت | جمهوری اسلامی افغانستان
دعدلیې وزارت | وزارت عدلیه

ریاست عمومی انستیتوت امور قانونگذاری وتحقیقات علمی- حقوقی

ریاست دیپارتمنت قوانین تعلیمی، فرهنگی و صحت

مدیریت اسناد وارتباط

شماره : ۳۹۹۳ (۱۷۸۹)　　　　تاریخ ۱۴/ ۱۳۹۴/۷/

**به وزارت محترم تحصیلات عالی !**

طوریکه درجریان قراردارید طرح قانون تحصیلات عالی ملکی در انستیتوت امورقانونگذاری تدقیق و ذریعهٔ مصوبهٔ شماره(۱۹)مؤرخ ۱۳۹۴/۶/۴ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان تصویب و به اساس فرمان تقنینی شماره(۷۴) مؤرخ ۱۳۹۴/۶/۱۱ مقام عالی ریاست جمهوری اسلامی افغانستان توشیح و نافذ گردیده است.
کاپی قانون متذکره همراه با فرمان تقنینی آن جهت اجراآت بعدی به شما ارسال است، انشاءالله عنقریب درجریدهٔ رسمی نشرخواهد شد.

با احترام

داکتر عبدالبصیر "انور"

وزیر عدلیه

## د ملکي لوړو زده کړو د قانون د توشېح په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس تقنيني فرمان

ګڼه: (۷۴)

نېټه: ۱۱/ ٦/ ۱۳۹۴

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون په نهه اويايمه ماده کې د درج شوي حکم له مخې، د ملکي لوړو زده کړو قانون چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۴/ ٦/ ۱۳۹۴ نېټې (۱۹) ګڼې مصوبې پربنسټ، تصويب شوی، منظوروم.

دوه يمه ماده:

د عدليې وزير او په پارلماني چارو کې د دولت وزير مؤظف دي، دغه فرمان د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰ ) ورځو مودې په ترڅ کې هغې شوري ته وړاندې کړي.

درېيمه ماده:

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د کابينې له مصوبې او يادشوي قانون سره

## فرمان تقنینی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد توشیح قانون تحصیلات عالی ملکی

شماره :(۷۴)

تاریخ : ۱۳۹۴/٦/۱۱

مادهٔ اول:

به تأسی از حکم مندرج مادهٔ هفتاد ونهم قانون اساسی افغانستان، قانون تحصیلات عالی ملکی را که به اساس مصوبهٔ شماره (۱۹)مؤرخ ۱۳۹۴/٦/۴کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردیده، منظور می دارم.

مادهٔ دوم:

وزیرعدلیه و وزیر دولت در امورپارلمانی مؤظف اند، این فرمان را در خلال مدت (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسهٔ شورای ملی به آن شورا تقدیم نمایند.

مادهٔ سوم:

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبهٔ کابینه و قانون

يوځای دې، په رسمي جريده کې خپـــور شي.

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

مـــذکور درجريـــدهٔ رســـمی نشـــر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د ملکي لوړو زده کړو د قانون د طرحې په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې مصوبه

ګڼه: (۱۹)

نېټه: ۴/ ٦/ ۱۳۹۴

د ملکي لوړو زده کړو د قانون طرح چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۴/ ٦/ ۱۳۹۴ نېټې په غونډه کې په (۷) فصلونو او (۷۲) مادو کې تصويب شوی دی، منظوروم.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان درمورد طرح قانون تحصیلات عالی ملکی

شماره :(۱۹)

تاریخ : ۱۳۹۴/٦/۴

طرح قانون تحصیلات عالی ملکی را که در جلسـهٔ مـؤرخ ۱۳۹۴/٦/۴ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۷) فصل و (۷۲) ماده تصـویب گردیده است، منظور می دارم.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## فهرست مندرجات قانون تحصیلات عالی ملکی

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی | ۱ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۲ |
| مادهٔ چهارم: | وظایف و مکلفیت های وزارت تحصیلات عالی | ۵ |
| | **فصل دوم** | |
| | **شورای عالی تحصیلات عالی** | |
| مادهٔ پنجم: | ترکیب شورای عالی | ۷ |
| مادهٔ ششم: | وظایف وصلاحیت های شورای عالی | ۹ |
| مادهٔ هفتم: | تدویر جلسات | ۱۱ |
| | **فصل سوم** | |
| | **مؤسسات تحصیلات عالی** | |
| مادهٔ هشتم: | تأسیس مؤسسهٔ تحصیلات عالی دولتی | ۱۱ |
| مادهٔ نهم: | تأسیس مؤسسهٔ تحصیلات عالی خصوصی | ۱۲ |
| مادهٔ دهم: | تأسیس مؤسسهٔ تحصیلات عالی در ادارات ملکی | ۱۲ |
| مادهٔ یازدهم: | وظایف وصلاحیت های مؤسسهٔ تحصیلات عالی | ۱۳ |
| مادهٔ دوازدهم: | بست های اکادمیک | ۱۶ |
| مادهٔ سیزدهم: | زبان تدریس | ۱۷ |

مادۀ چهاردهم: تطبیق نصاب درسی ..............................۱۷
مادۀ پانزدهم: جلب همکاری ..................................۱۸
مادۀ شانزدهم: شورای علمی مؤسسه تحصیلات عالی ............۱۸
مادۀ هفدهم: ترکیب شورای علمی مؤسسه ................... ۱۸
مادۀ هجدهم: وظایف وصلاحیت های شورای علمی مؤسسه.... ۲۰
مادۀ نزدهم: جلسات شورای علمی مؤسسه ................. ۲۲
مادۀ بیستم: رئیس و معاونان مؤسسۀ تحصیلات عالی..........۲۳
مادۀ بیست ویکم: انتخابات ........................................۲۴
مادۀ بیست ودوم: مجلس اداری ....................................۲۴
مادۀ بیست وسوم: تشکیل پوهنځی ..................................۲۴
مادۀ بیست وچهارم: رئیس پوهنځی ..................................۲۵
مادۀ بیست وپنجم: معاون پوهنځی.................................. ۲۵
مادۀ بیست وششم: شورای علمی پوهنځی..............................۲۵
مادۀ بیست وهفتم: ترکیب شورای علمی پوهنځی ......................۲۶
مادۀ بیست و هشتم: وظایف و صلاحیت های شورای علمی پوهنځی....۲۶
مادۀ بیست و نهم: دیپارتمنت ..........................................۲۸
مادۀ سی ام : وظایف وصلاحیت های دیپارتمنت.................۲۹
مادۀ سی و یکم: مرجع اعطای اسناد تحصیلی ........................۳۰
مادۀ سی ودوم: ارزیابی اسناد تحصیلی...............................۳۰
مادۀ سی وسوم: مصئونیت مؤسسۀ تحصیلات عالی .................۳۱

## فصل چهارم

## اعضای کادرعلمی

## بست های اکادمیک مؤسسات تحصیلات عالی

مادۀ سی وچهارم: رتب علمی اعضای کادری علمی ................۳۲
مادۀ سی و پنجم: معاش اعضای کادرعلمی.........................۳۲
مادۀ سی و ششم: وظایف وصلاحیت های اعضای کادرعلمی........۳۳
مادۀ سی و هفتم: شرایط پذیرش پوهنیار.............................۳۵
مادۀ سی وهشتم: شرایط پذیرش پوهنمل............................۳۷
مادۀ سی ونهم: تقررعضوکادرعلمی ...............................۳۸
مادۀ چهلم: محاسبۀ آثار علمی ومدت خدمت.................۳۹
مادۀ چهل ویکم: تثبیت رتب علمی..................................۴۰
مادۀ چهل ودوم : پیشبینی بست های اکادمیک......................۴۲
مادۀ چهل وسوم: تقرر در بست های اداری دولتی .................۴۳
مادۀ چهل وچهارم : استاد خارج بست اکادمیک ......................۴۴
مادۀ چهل و پنجم: ترفیع علمی معاون استاد (اسیستانت) .............۴۴
مادۀ چهل وششم: ترفیع رتب علمی استاد.............................۴۹
مادۀ چهل وهفتم: تعیین هیئت ژوری .................................۵۳
مادۀ چهل وهشتم: ارزیابی آثارعلمی..................................۵۴
مادۀ چهل ونهم: منظوری ترفیع علمی.............................. ۵۵
مادۀ پنجاهم: تقاعد.........................................۵۵
مادۀ پنجاه ویکم: انفکاک از بست های اکادمیک ...................۵۵

## فصل پنجم

## اداره و بورد ارتقای کیفیت و اعتبار دهی اکادمیک مؤسسات تحصیلات عالی


مادۀ پنجاه ودوم: ایجاد اداره وبورد ارتقای کیفیت ......................
و اعتباردهی اکادمی.............................۵۷

مادۀ پنجاه وسوم: ترکیب بورد ارتقای کیفیت واعتباردهی اکادمیک.۵۷

مادۀ پنجاه وچهارم: شرایـــط عضویت بورد ارتقای کیفیت...............
واعتباردهـــی اکادمیک ..........................۵۸

مادۀ پنجاه وپنجم: وظایف وصلاحیت های ادارۀ ارتقای کیفیت و........
اعتبار دهی اکادمیک ..............................۵۹


## فصل ششم

## محصلان مؤسسات تحصیلات عالی


مادۀ پنجاه وششم: پذیرش در برنامه های لیسانس ...................۶۰

مادۀ پنجاه وهفتم: پذیرش دربرنامه های ماستری و دکتورا.......... ۶۰

مادۀ پنجاه وهشتم: تحصیل شبانه......................................۶۱

مادۀ پنجاه و نهم : حقوق و امتیازات محصل.........................۶۱

مادۀ شصتم: مکلفیت های محصل ..............................۶۲

مادۀ شصت و یکم: تحصیل محصل خارجی............................۶۳

مادۀ شصت ودوم: دیپلوم دوم ......................................۶۳

مادۀ شصت وسوم: توزیع سندتحصیلی............................ ۶۴

مادۀ شصت و چهارم: امتیاز سند تحصیلی...........................۶۴

## فصل هفتم

## احکام متفرقه

مادهٔ شصت و پنجم: بودجه ............................................ ٦٥
مادهٔ شصت و ششم: قیمومیت.......................................... ٦٦
مادهٔ شصت و هفتم: تحقیقات علمی...................................... ٦٦
مادهٔ شصت و هشتم: رعایت اصول و ارزش ها.......................... ٦٧
مادهٔ شصت و نهم: تثبیت رتبه ...................................... ٦٧
مادهٔ هفتادم: کارکن خدمات ملکی مؤسسه تحصیلات عالی.... ٦٨
مادهٔ هفتاد ویکم: وضع مقرره ها، لوایح و طرزالعمل ها.............. ٦٨
مادهٔ هفتاد ودوم: انفاذ.................................................. ٦٨

# د ملكي لوړو زده كړو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حكمونو

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون، د افغانستان د اساسي قانون په دري څلويښتمه او شپږ څلويښتمه ماده كې د درج شوو حكمونو له مخې، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- د بشري سرچينو د پياوړتيا په منظور، د لوړو زده كړو د كيفيت وده او پياوړتيا.

۲- د علمي كادر د غړو د حقوقو او امتيازونو تأمين.

۳- د محصلينو د زده كړې او پالنې (پرورش) په كار كې د علمي كادر د غړو د مكلفيتونو او مسئوليتونو ټاكل.

۴- د علومو، هنر او تكنالوژۍ په مختلفو برخو (رشتو) كې د علمي كادرونو روزنه.

# قانون تحصيلات عالی ملكی

## فصل اول

## احكام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این قانون به تأسی از احكام مندرج مواد چهل وسوم و چهل وششم قانون اساسی افغانستان، وضع گرديده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- رشد و ارتقای كيفيت تحصيلات عالی به منظور تقويهٔ منابع بشری.

۲- تأمين حقوق و امتيازات اعضای كادر علمی.

۳- تعيين مكلفيت ها و مسئوليت های اعضای كادر علمی در امر آموزش و پرورش محصلان.

۴- تربيهٔ كادر های علمی در رشته های مختلف علوم، هنر و تكنالوژی.

۵- د زده کړه ییزو، علمي، څېړنیزو او خدماتي فعالیتونو، پرمختیول.

٦- د ځوانانو ترمنځ دملي یووالي او وطن دوستۍ د روحیې پیاوړتیا.

## اصطلاحګانې

**درېیمه ماده:**

لاندې اصطلاحګانې، په دې قانون کې، ددغو مفاهیمو لرونکې دي:

۱- د لوړو زده کړو مؤسسه: پوهنتون او د لوړو زده کړو انستیتوت دی چې د لېسانس او له هغۀ څخه په لوړو تحصیلي درجو د علمي کـادرونو د روزنـې ا و علمي څېړنو په منظور، فعالیت کوي.

۲- د لوړو زده کړو دولتـي مؤسسـه: هغه مؤسسه ده چې د دولت لـه خـوا تأسیس، تمویل، اداره او رهبري کېږي.

۳- د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسه: غیر دولتي خصوصي مؤسسه ده چـې د هېواد د نافذه قوانینو مطابق تأسیس او د لوړو زده کړو له وزارت څخه د فعالیت جواز، ترلاسه کوي.

۴- پوهنتون: هغه تحصیلي مؤسسـه ده چې لږترلږۀ د شپږو پوهنځیو، معیـاري

۵- پیشبرد فعالیت هـای آموزشـی، علمی، تحقیقاتی و خدماتی.

٦- تقویۀ روحیۀ وحدت ملی و وطـن دوستانه در بین جوانان.

## اصطلاحات

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی در این قـانون دارای مفاهیم ذیل می باشد:

۱- مؤسسۀ تحصیلات عالی: پوهنتون و انستیتوت تحصیلات عالی است که بـه منظور تربیۀ کادر های علمی به درجـه های تحصیلی لیسانس و بالاتر از آن و تحقیقات علمی فعالیت می نماید.

۲- مؤسسۀ تحصیلات عالی دولتـی: مؤسسۀ است کـه از طـرف دولـت تأسیس، تمویل، اداره و رهبری می شود.

۳- مؤسسۀ تحصیلات عالی خصوصی: مؤسسۀ تحصیلی غیر دولتی است کـه مطابق قوانین نافذه کشـور تأسـیس و جواز فعالیت را از وزارت تحصـیلات عالی بدست می آورد.

۴- پوهنتون: مؤسسۀ تحصیلی است که حداقل دارای شش پـوهنځی، محـل

مناسب ځـــای، د دکتـــورا (PHD) د تحصيلي سويې او د پوهندوی يا له هغهٔ څخه د لوړې رتبې د ۳۰ سلنې استادانو لرونکې وي، معياري درســـي نصـــاب، څېړنيز فعاليتونه، د علمي څېړنو د سمون مرکز، علمي مجله، کتابتون، انټرنېټـــي آسانتياوې، فـــعال لابراتوارونه، ليليـــه، ورزشي امکانات او د معلوماتي تکنالوژۍ مرکز، لږترلږهٔ د ماسترۍ د يوې برنامې يا له هغې څخه د لوړو برنـــامو لرونکـــې وي.

۵- د لوړو زده کړو انســـتيتوت: هغـــه تحصيلي مؤسسه ده چې د يوه يا له يـــوه څخه د زيـــاتو پوهنځيـــو، د ماســـتر د تحصيلي سويې او د پوهنمل يا له هغـــهٔ څخه د لوړې علمي رتبې د ۱۵ ســـلنې استادانو، معياري درسي نصاب، کتابتون، انټرنېټي آسانتياوې، فعال لابراتوارونـــه، ليليه او ورزشي امکانات او د معلومـــاتي تکنالوژۍ لرونکې وي.

٦- پوهنځی: د لوړو زده کړو د مؤسسې علمي او اداري واحد دی چې د لېسانس يا له هغهٔ څخه د لوړې سويې کادرونو د

مناسب معياری، ۳۰ فيصـــد اســـتادان دارای سويهٔ تحصيلی دکتورا (PHD) و رتبهٔ علمی پوهندوی يا بـــالاتر از آن بوده، نصاب درسی معياری، فعاليت های تحقيقاتی، مرکز انسجام تحقيقات علمی، مجلهٔ علمی، کتابخانه، سهولت هـــای انترنيتی، لابراتوارهای فـــعال، ليليـــه، امکانات ورزشی و مرکـــز تکنـــالوژی معلومـــاتی، حـــداقل يـــک برنامـــهٔ ماســـتری و يـــا بـــالاتر از آن را دارا می باشد.

۵- انستيتوت تحصيلات تحصيلات عالی: مؤسسهٔ تحصيلی است که دارای يک يا بيشتر از يک پوهنځی، ۱۵ فيصد استادان به سويهٔ تحصيلی ماستر و رتبهٔ علمی پوهنمل يا بالاتر از آن، نصاب درســـی معيـــاری، کتابخانه، ســـهولت هـــای انترنيتـــی، لابراتوار های فعال، ليليه و امکانـــات ورزشی و مرکز تکنـــالوژی معلومـــاتی می باشد.

٦-پوهنځی: واحـــد علمـــی و اداری مؤسسهٔ تحصيلات عالی است که بـــه منظور آموزش کادر ها به سويهٔ ليسانس

زده کړې په منظور، د لوړو زده کــړو د مؤسسې په چوکاټ کې، فعالیت کوي.

۷- دیپارتمنت: د پــوهنځي تدریســي، څېړنیز، اداري او بنسټیز (اساسي) علمي، واحد دی چې لږترلږهٔ د علمي کــادر د څلورو غړو لرونکی وي.

۸- محصل: هغه شــخص دی چــې د لېسانس یا له هغهٔ څخه په لوړه سویه، د پوهې او مهارتونو د ترلاسه کولو له پاره، ټاکلې برنامې د تحصیلي مقرراتو او لایحو مطابق، تعقیبوي.

۹- د علمي کادر غړی: هغه شخص دی چې د پوهنځي له دیپارتمنتونو څخه په یوهٔ کې، ددې قانون د حکمونو مطــابق، د علمي رتبې لرونکی وي، په تــدریس او څېړنه بوخت وي.

۱۰- اکادمیک چاپېریال (محیط): هغــه چاپېریال دی چې تدریس، څېړنه او نــور علمي فعالیتونه په هغهٔ کې صورت مومي.

۱۱- اکادمیکه آزادي: د منل شوو علمي تګلارو (روشونو) او معیارونو پربنسټ، د علمي نظریو آزادانه وړاندې کول دي.

۱۲- اکادمیک تقویم: د سمســترونو د

یا بالاتر از آن، در چوکــات مؤسســهٔ تحصیلات عالی فعالیت می نماید.

۷- دیپارتمنت: واحد اساسی علمــی، تدریسی، تحقیقــی و اداری پــوهنځی می باشد که حد اقل دارای چهار عضو کادر علمی می باشد.

۸- محصل: شخصی است که جهــت کسب دانش و مهارت ها بــه ســویهٔ لیسانس یا بالاتر از آن، برنامه های معینه را مطابق مقررات و لــوایح تحصــیلی تعقیب می نماید.

۹- عضوکادرعلمي: شخصی است که در یکی از دیپارتمنت های پوهنځی، طبق احکام این قانون دارای رتبهٔ علمی بوده، به تدریس و تحقیــق اشــتغال داشــته باشد.

۱۰- محیط اکادمیک: محیطی اســت که در آن تدریس، تحقیق و سایر فعالیت های علمی صورت می گیرد.

۱۱-آزادی اکادمیک: ارایــهٔ آزادانــهٔ نظریات علمی بر مبنــای روش هــا و معیارهای علمی پذیرفته شده می باشد.

۱۲- تقویم اکادمیک: زمــان بنــدی

پیل او پای زمان بنـدي او د ازموینـو اخیستل دي.

۱۳- د لوړو زده کړو عـالي شـوري: د لوړو زده کړو په چاروکې د تصـمیم نیونې لوړه مرجع ده، چې په هېواد کې د لوړو زده کړو د علمي کیفیت ممثلـه او تضمینوونکې ده.

۱۴- علمي- څېړنیز اثر: څېړنیز اثر دی چې د علمي کادر د غړي د نوو (تـازه) تحلیلي نظریو او ارزونې لرونکی وي او د علمي او اکادمیک ژوري هیئت د تأییـد وړ وګرځي.

۱۵- اکادمیکه اعتبار ورکونـه: هغـه رسمي سند دی چې د منل شوو کیفـي معیارونو د بشپړتیا پربنسټ د تحصـیلي مؤسسې یا د هغې د برنامو د اعتبـار او درجه بندۍ په منظور، د اکادمیکې اعتبار ورکونې له پاره په ملي او بـین المللـي سطح ورکول کېږي.

## د لوړو زده کړو د وزارت دندې او مکلفیتونه

څلورمه ماده:

د لوړو زده کړو وزارت د اړوندو ادارو

شروع و ختم سمسـتر هـا و اخـذ امتحانات می باشد.

۱۳- شورای عالی تحصیلات عـالی: عالیترین مرجع تصمیم گیری در امـور تحصیلات عالی بوده که ممثل و تضمین کنندۀ کیفیت علمی تحصیلات عالی در کشور می باشد.

۱۴- اثرعلمی-تحقیقی: اثر تحقیقـی است که حاوی نظریات تازۀ تحلیلی و ارزیابی عضو کادر علمی بوده و مورد تائید هیئت ژوری علمی واکادمیک قرار گیرد.

۱۵- اعتبار دهی اکادمیک: سند رسمی است که به منظور اعتبار و درجه بندی مؤسسۀ تحصیلی و یا برنامه های آن بر اساس اکمال معیار های کیفی پذیرفتـه شده، جهت کسب اعتبار اکادمیک در سطح ملی یـا بـین المللـی، اعطـا می گردد.

## وظایف و مکلفیـت هـای وزارت تحصیلات عالی

مادۀ چهارم:

وزارت تحصیلات عالی بـه همکـاری

په همکارۍ، د لاندې چارو په اجـــراء مکلف دی:

۱- د لوړو زده کړو د مؤسسې تأسیس.

۲- د تقنیني سندونو د حکمونو مطابق، کورنیو او بهرنیـــو حقیقـــي او حکمـــي اشخاصو ته د خصوصي لوړو زده کړو د مؤسسې د تأسیس د جواز صادرول.

۳- د تقنیني سندونو د حکمونو مطابق، د هېواد د اقتصادي او ټولنیزو اړتیاوو د رفع کولو په مقصد، د لوړو زده کړو په دولتي او خصوصي مؤسسه کې د کمي، کیفي ودې او علمي څېړنو د زمینو برابرول.

۴- د هېواد د لوړو زده کـــړو د نظـــام له پاره د پالیسۍ او استراتیژۍ تدوین.

۵- د لوړو زده کړو د مؤسسې د علمي اړتیاوو، بشري ځواک په هکله د ارقامو او معلوماتو د وړاندې کولو او د علمي او اکادمیکو فعالیتونو له پـــاره د زمینـــې د برابرولو په منظور، د وزارتونو، دولتي او خصوصي ادارو د همکارۍ جلبول.

٦- د تقنیني سندونو تدوین او د هغو له تطبیق څخه څارنه.

۷- د لوړو زده کړو د بهرنۍ مؤسسې او

ادارات ذیربط مکلف به اجرای امور ذیل می باشد:

۱- تأسیس مؤسسۀ تحصیلات عالی.

۲- صدور جـــواز تأســـیس مؤسســـۀ تحصیلات عالی خصوصی به اشـــخاص حقیقی و حکمی داخلی و خارجی مطابق احکام اسناد تقنینی.

۳- فراهم آوری زمینه های رشد کمی، کیفی و تحقیقات علمـــی درمؤسســـۀ تحصیلات عالی دولتی و خصوصی، به مقصد رفع نیازهای اقتصادی و اجتماعی کشور، طبق احکام اسناد تقنینی.

۴-تدوین پالیسی و استراتیژی برای نظام تحصیلات عالی کشور.

۵- جلب همکاری وزارت ها و ادارات دولتی و خصوصی به منظور ارایۀ ارقام و معلومات در مورد نیازهای علمی، نیروی بشری و زمینه سازی برای فعالیت های علمی و اکادمیک مؤسسۀ تحصـــیلات عالی.

٦- تدوین اسناد تقنینی و نظـــارت از تطبیق آنها.

۷- فراهم آوری زمینه ها بـــه منظـــور

د لوړو زده کړو د کــورنۍ (داخلــي) مؤسسې ترمنځ د روابطو د رامنځته کولو، د پراختيا او ټينګښت په منظور، د زمينو برابرول.

۸- د ملي او بين المللي مؤسسو د مادي او معنوي همکاريو جلبول.

۹- د شرايطو لرونکې لوړو زده کړو د مؤسسې له اکاديمــک، مــالي او اداري خپلواکۍ څخه ملاتړ.

## دوه يم فصل

## د لوړو زده کړو عالي شوري

### د عالي شوري ترکيب (جوړښت)

پنځمه ماده:

(۱) د لــــوړو زده کړو عالي شوري په لاندې ترکيب سره جوړېږي.

۱- د لوړو زده کړو وزير د رئيس پــه توګه.

۲- د لـــوړو زده کړو وزارت معينان د غړو په توګه.

۳- د ماليې وزارت مالي معين د غړي په توګه.

۴- د پوهنې وزارت تدريســي معــين د

ايجاد، توسعه و تحکيم روابــط ميــان مؤسسهٔ تحصيلات عــالی داخلــی بــا مؤسســـــهٔ تحصـــــيلات عـــــالی خارجی.

۸- جلب همکاری های مادی و معنوی مؤسسات ملی و بين المللی.

۹- حمايت از استقلال اکاديمک، مالی و اداری مؤسسهٔ تحصيلات عالی واجد شرايط.

## فصل دوم

## شورای عالی تحصيلات عالی

### ترکيب شورای عالی

مادهٔ پنجم:

(۱) شورای عالی تحصيلات عالی بــه ترکيب ذيل تشکيل می گردد:

۱-وزير تحصيلات عــالی بــه حيــث رئيس.

۲- معينان وزارت تحصيلات عالی بــه حيث اعضاء.

۳- معين مالی وزارت ماليه به حيــث عضو.

۴- معين تدريسی وزارت معارف بــه

غړي په توګه.

۵- د اقتصاد وزارت معین د غړي په توګه.

٦- د مرکز د لوړو زده کړو د دولتي مؤسسو رئیسان د غړو په توګه.

۷- د مرکز د لوړو زده کړو د دولتي مؤسسې له استادانو څخه د اړوندې علمي شورې په غوراوي (انتخاب)، یو یوتن د غړو په توګه.

۸- د ولایتونو د لوړو زده کړو د دولتي مؤسسو له رئیسانو څخه دوه تنه، د تأسیس د وخت (زمان) په ترتیب، په متناوب ډول (د یوه کال مودې له پاره) د غړو په توګه.

۹- د ولایتونو د لوړو زده کړو، د دوو دولتي مؤسسو څخه یو یوتن استاد، د تأسیس د وخت په ترتیب او د اړوندې علمي شورې په غوراوي، په متناوب ډول (د یوه کال مودې له پاره)، د غړو په توګه.

۱۰- د مرکز د دولتي لوړو زده کړو له مؤسسې څخه د اړوندې علمي شورې په غوراوي یوه تنه اناثه استاده په متناوب

حیث عضو.

۵- معین وزارت اقتصاد به حیث عضو.

٦- رؤسای مؤسسات تحصیلات عالی دولتی مرکز به حیث اعضاء.

۷- یک یک نفر از استادان مؤسسهٔ تحصیلات عالی دولتی مرکز به انتخاب شورای علمی مربوط به حیث اعضاء.

۸- دو نفر از رؤسای مؤسسات تحصیلات عالی دولتی ولایات به ترتیب زمان تأسیس به طور متناوب (برای مدت یک سال) به حیث اعضاء.

۹- یک یک نفر استاد از دو مؤسسهٔ تحصیلات عالی دولتی ولایات به ترتیب زمان تأسیس و به انتخاب شورای علمی مربوط به طور متناوب (برای مدت یک سال)، به حیث اعضاء.

۱۰- یک نفر استاد اناث از مؤسسهٔ تحصیلات عالی دولتی مرکز به انتخاب شورای علمی مربوط به طور متناوب

ډول (د یوهٔ کال مودې له پاره)، د غړي په توګه.

۱۱- د لوړو زده کړو د خصوصي مؤسسو له رئیسانو څخه چې دعلمي کادر غړیتوب ولري دوه تنه، د تأسیس د وخت په ترتیب او په متناوب ډول (دیوهٔ کال مودې له پاره)، د غړو په توګه.

۱۲- د اکادمیکو چارو د سمون رئیس، د منشي په توګه.

(۲) د لوړو زده کړو عالي شورې، په دې قانون کې د عالي شورې په نوم یادېږي.

## د عالي شورې دندې او واکونه

شپږمه ماده:

(۱) عالي شورې د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- د لوړو زده کړو د وزارت د استراتیژیک پلان تأیید او اړوندو مراجعو ته د تصویب په غرض، د هغهٔ وړاندیز.

۲- د لوړو زده کړو د پالیسیو او د لوړو زده کړو د مؤسسو د استراتیژیکو پلانونو تصویب.

(برای مدت یک سال)، به حیث عضو.

۱۱- دو نفر از رؤسای مؤسسات تحصیلات عالی خصوصی که عضویت کادر علمی را داشته باشند، به ترتیب زمان تأسیس به طور متناوب (برای مدت یک سال)، به حیث اعضاء.

۱۲- رئیس انسجام امور اکادمیک به حیث منشی.

(۲) شورای عالی تحصیلات عالی در این قانون به نام شورای عالی یاد می شود.

## وظایف و صلاحیت های شورای عالی

مادهٔ ششم:

(۱) شورای عالی دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱- تائید پلان استراتیژیک وزارت تحصیلات عالی و پیشنهاد آن غرض تصویب به مراجع مربوط.

۲- تصویب پالیسی های تحصیلات عالی و پلان های استراتیژیک مؤسسهٔ تحصیلات عالی.

۳- د لوړو زده کړو د مؤسسې د کمي او کيفي لوړتيا په منظور، د لازمو تدبيرونو نيول.

۴- د پوهنځيو او ديپارتمنتونو د تأسيس، پراختيا، تجزيې، الحاق، ادغام او يا الغاء د وړانديز تأييد.

۵- واکمنو مراجعو ته د تحصيلي سندونو، علمي رتبو د مادي او معنوي حقوقو او امتيازونو او د علمي کادر د غړو د حق الزحمو وړانديز.

٦- واکمنو مراجعو ته له پولي تورم سره متناسب، د علمي کادر د غړو د معاش وړانديز.

۷- د لوړو زده کړو د دولتي او خصوصي مؤسسو له پاره د اکاديميک تقويم تثبيت.

۸- د اړوندو تقنيني سندونو د حکمونو مطابق، د نورو دندو سرته رسول.

(۲) د عالي شوري تصويبونه، له ثبت وروسته، د لوړو زده کړو د مؤسسې خبرتيا ته رسول کېږي.

(۳) د لوړو زده کړو مؤسسه، د عالي شوري د تصميمونو په تطبيق، مکلفه ده.

۳- اتخاذ تدابير لازم به منظور ارتقای کمی و کيفی مؤسسۀ تحصيلات عالی.

۴- تائيد پيشنهاد تأسيس، توسعه، تجزيه، الحاق، ادغام و يا الغای پوهنځی ها و ديپارتمنت ها.

۵- پيشنهاد حقوق وامتيازات مادی، معنوی، اسناد تحصيلی، رتب علمی و حق الزحمه های اعضای کادرعلمی به مراجع ذيصلاح.

٦- پيشنهاد معاش عضو کادرعلمی متناسب به تورم پولی به مراجع ذيصلاح.

۷- تثبيت تقويم اکادميک برای مؤسسۀ تحصيلات عالی دولتی و خصوصی.

۸- انجام ساير وظايف طبق احکام اسناد تقنينی مربوط.

(۲) تصاويب شورای عالی بعد از ثبت، به اطلاع مؤسسۀ تحصيلات عالی رسانيده می شود.

(۳) مؤسسۀ تحصيلات عالی مکلف به تطبيق تصاميم شورای عالی می باشد.

## د غونډو جوړول (دايرول)

**اوومه ماده:**

(۱) د عالي شورې عادي غونډې، په هرو دريو مياشتو کې يوځل جوړېږي. فوق العاده غونډې د اړتيا له مخې د رئيس په تصميم يا د عالي شورې د غړو د ثلث (درييمې) په وړانديز جوړېږي.

(۲) د عالي شورې د غونډو دجوړېدو نصاب، د هغې د غړو د دوو ثلثو حضور دی. تصميمونه په غونډه کې د حاضرو غړو د رأيو په اکثريت نيول کېږي.

(۳) د عالي شورې په غونډو پورې اړوندې نورې چارې، د جلا لايحې په واسطه تنظيمېږي.

## تدوير جلسات

**مادۀ هفتم:**

(۱) جلسات عادی شورای عالی در هر سه ماه يکبار داير می گردد. جلسات فوق العاده نظربه ضرورت به تصميم رئيس يا پيشنهاد ثلث اعضای شورای عالی داير می گردد.

(۲) نصاب تدوير جلسات شورای عالی، حضور دوثلث اعضای آن می باشد.تصاميم به اکثريت آرای اعضای حاضر جلسه اتخاذ می گردد.

(۳) ساير امور مربوط به جلسات شورای عالی توسط لايحۀ جداگانه تنظيم می گردد.

# درېيم فصل

# د لوړو زده کړو مؤسسې

## د لوړو زده کړو د دولتي مؤسسې تأسيس

**اتمه ماده:**

(۱) د لوړو زده کړو دولتي مؤسسه، د ټولنې د اړتياوو پربنسټ او د لوړو زده کړو وزارت د پرمختيايي پلان مطابق

# فصل سوم

# مؤسسات تحصيلات عالی

## تأسيس مؤسسۀ تحصيلات عالی دولتی

**مادۀ هشتم:**

(۱) مؤسسۀ تحصيلات عالی دولتی، بر اساس نياز های جامعه و مطابق پلان انکشافی وزارت تحصيلات عالی تأسيس

تأسیسېږي.

(۲) د لوړو زده کړو د دولتي مؤسسې تأسیس، د لوړو زده کړو وزارت په وړاندیز، د عالي شوري په تأیید او د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې په تصویب صورت مومي.

**د لوړو زده کړو د خصوصي مؤسسې تأسیس**

**نهمه ماده:**

(۱) د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسه، ددې قانون دحکمونو مطابق د کورنیو او بهرنیو حقیقي او حکمي اشخاصو له خوا په انتفاعي او غیر انتفاعي ډول تأسیسېدای شي.

(۲) د لوړو زده کړو د خصوصي مؤسسې تأسیس، د فعالیت ډول، حقوق او وجایب د جلا مقررې په واسطه تنظیمېږي.

**په ملکي اداروکې د لوړو زده کړو د مؤسسې تأسیس**

**لسمه ماده:**

(۱) دولتي ادارې د اړتیا په صورت کې د

می گردد.

(۲) تأسیس مؤسسهٔ تحصیلات عالی دولتی به پیشنهاد وزارت تحصیلات عالی، تائید شورای عالی و تصویب کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان صورت می گیرد.

**تأسیس مؤسسهٔ تحصیلات عالی خصوصی**

**مادهٔ نهم:**

(۱) مؤسسهٔ تحصیلات عالی خصوصی مطابق احکام این قانون از طرف اشخاص حقیقی وحکمی داخلی و خارجی به طور انتفاعی و غیرانتفاعی تأسیس شده می تواند.

(۲) طرز تأسیس، فعالیت، حقوق و وجایب مؤسسهٔ تحصیلات عالی خصوصی توسط مقررهٔ جداگانه تنظیم می گردد.

**تأسیس مؤسسهٔ تحصیلات عالی در ادارات ملکی**

**مادهٔ دهم:**

(۱) ادارات دولتی درصورت ضرورت

اړتيا وړ مسلکي کادرونو د روزلو په منظور، د لوړو زده کړو وزارت د موافقې په ترلاسه کولو او ددې قانون او نورو اړوندو تقنيني سندونو د حکمونو او اکاډميکو معيارونو په رعايتولو سره کولای شي، اختصاصي انستيتونه جوړ کړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج انستيتونه، د تشکيل، بودجې او ادارې له نظره د اړوندې ادارې تابع او داکاډميکو معيارونو له نظره د لوړو زده کړو وزارت تابع دي.

## دلوړو زده کړو د مؤسسې دندې او واکونه

**يوولسمه ماده:**

دلوړو زده کړو مؤسسه د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- د لېسانس او له هغهٔ څخه په لوړو تحصيلي درجو، دکادرونو زده کړه او چمتو کول او په نظري پوهه، عملي مهارتونو او دهېواد د اړتياوو مطابق د علومو په مختلفو برخو (رشتو) کې په مطلوب سلوک سره د هغو سمبالول.

به منظور تربيهٔ کادرهای مسلکی مورد نياز با کسب موافقهٔ وزارت تحصيلات عالی و بارعايت احکام اين قانون و ساير اسناد تقنينی مربوط و معيارهای اکادميک، می توانند انستيتوت های اختصاصی را ايجاد نمايند.

(۲) انستيتوت های مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده از نظر تشکيل، بودجه و اداره تابع ادارهٔ مربوطه و از نظر معيارهای اکادميک تابع وزارت تحصيلات عالی می باشد.

## وظايف و صلاحيت های مؤسسهٔ تحصيلات عالی

**مادهٔ يازدهم:**

مؤسسهٔ تحصيلات عالی دارای وظايف و صلاحيت های ذيل می باشد:

۱- آموزش و آماده ساختن کادرها به درجه های تحصيلی ليسانس و بالاتر از آن و تجهيز آنها به دانش نظری، مهارت های عملی و سلوک مطلوب در رشته های مختلف علوم، مطابق نياز های کشور.

۲- د لېسانس، ماسترۍ، دکتورا دلوړو زده کړو او د تخصصي او څېړنیزو دورو، د زمينې رامنځته کول.

۳- د شپې او په خدمت کې د ننه لوړو زده کړو د زمينې مساعدول.

۴- د هېواد اړتیاوو مطابق، د علومو، هنر او تکنالوژۍ په مختلفو برخو کې د متخصصينو او علمي کادرونو د تخصصي او مسلکي کيفيت مستمره وده.

۵- د هېواد د هر اړخيزې ودې له پاره د کادرونو د چمتو کولو په منظور، د علمي- څېړنيزو فعاليتونو پرمختيول.

٦- دتحصيل او څېړنې د وسايلو، کتابونو، درسي او ممد درسي موادو برابرول.

۷- د کتابتونونو، درسي ټولګيو، ورزشي او ټولنيزو کلوپونو، لابراتوارونو جوړول، وده او پراختيا، د کادري روغتونونو، روغتيايي کلينيکونو، تخنيکي- تدريسي ورکشاپونو، د ساحوي او څېړنيزو تطبيقاتو د ځايونو جوړول، د کرنيزو او مالدارۍ د څېړنيزو فارمونو، حقوقي کلينيکونو، تمثيلي حقوقي محکمو،

۲- ایجاد زمينۀ تحصيلات عالی ليسانس، ماستری، دکتورا و دوره های تخصصی و تحقيقی.

۳- مساعد ساختن زمينۀ تحصيلات عالی شبانه و داخل خدمت.

۴- رشد مستمر کيفيت تخصصی و مسلکی متخصصان و کادر های علمی در رشته های مختلف علوم، هنر و تکنالوژی، طبق نياز های کشور.

۵- پيشبرد فعاليت های علمی - تحقيقی به منظور آماده ساختن کادرها جهت رشد همه جانبۀ کشور.

٦- فراهم آوری وسايل تحصيل و تحقيق کتب، مواد درسی و ممد درسی .

۷- ایجاد، رشد و توسعۀ کتابخانه ها، صنوف درسی، کلوپ های ورزشی و اجتماعی، لابراتوارها، ایجاد شفاخانه های کادری، کلينيک های صحی، ورکشاپ های تخنيکی-تدريسی، محلات تطبيقات ساحوی و تحقيقی، ایجاد فارم های تحقيقی زراعتی و مالداری، کلينيک های حقوقی، محاکم

تطبيقاتي تياتر او راديو تلويزيون رامنځته کول.

۸- د تدريس زده کړې د زمينې مساعدول.

۹- د علمي او څېړنيزو کادرونو د سويې د پالنې او لوړولو په منظور د لنډ مهالو او اوږد مهالو پلانونو طرح او تطبيق.

۱۰- د ټولنې د اړتياوو مطابق، د درسي نصاب پرمختيا او نوي کول او د تدريس له کارنده (فعالو)، اغېزناکو، معاصرو او نوو شېوو (تګلارو) څخه ګټه اخيستل.

۱۱- په تحصيلي مؤسسه کې د اکاډميک نظم او دسپلين رامنځته کول.

۱۲- د اړوندو پوهنځيو له علمي، تدريسي، څېړنيزو او اداري چارو څخه مراقبت او څارنه.

۱۳- د خدمتونو د چارو تنظيم او د علمي، تخصصي کادرونو او محصلينو له پاره د کار او فعاليت د شرايطو ښه کول.

۱۴- د علمي محافلو (سيمينارونو، ورکشاپونو او کنفرانسونو) جوړول.

۱۵- د لوړو زده کړو د مالي ستې (بنيې)

تمثيلی حقوقی، تياتر و راديو تلويزيون تطبيقاتی.

۸- مساعد ساختن زمينهٔ تدريس آموزی.

۹- طرح وتطبيق پلان‌های کوتاه مدت و دراز مدت به منظور پرورش و ارتقای سويهٔ کادرهای علمی و تحقيقی.

۱۰- انکشاف و نوسازی نصاب درسی، مطابق نياز های جامعه و استفاده از شيوه های فعال، مؤثر، معاصر و جديد تدريس.

۱۱- ايجاد نظم و دسپلين اکادميک در مؤسسهٔ تحصيلی.

۱۲- مراقبت و نظارت از امور علمی، تدريسی، تحقيقی و اداری پوهنځی های مربوط.

۱۳- تنظيم امور خدمات و بهبود شرايط کار و فعاليت برای کادرهای علمی، تخصصی و محصلان.

۱۴- برگزاری محافل علمی (سيمينار ها، ورکشاپ ها و کنفرانس ها).

۱۵- جستجو، ايجاد و توسعهٔ منابع

د پیاوړتیا په منظور، د عایداتي سرچینو لټول، جوړول او پراختیا.

۱۶- د لوړو زده کړو وزارت ته، د اړوندو فعالیتونو د رپوټ وړاندې کول.

۱۷- د اړوندو تقنیني سندونو د حکمونو مطابق، د نورو دندو سرته رسول.

## اکادمیک بستونه

دوولسمه ماده:

د لوړو زده کړو په مؤسسه کې اکادمیک بستونه:

۱- د علمي کادر د غړو اکادمیک بست.

۲- د تحصیلي مؤسسې د ریاست او مرستیالیو بستونه.

۳- د پوهنځیو د ریاستونو او مرستیالیو بستونه.

۴- د دیپارتمنتونو د آمریتونو بستونه.

۵- د علمي څېړنو د سمون د مرکز د ادارې د مسئولانو، د لوړو زده کړو د مؤسسو د کادري روغتونونو، د خپرونو، د استادانو د چارو د سمون، محصلینو کتابتون، د علمي مرکزونو، د کیفیت د

عایداتی به منظور تقویهٔ بنیهٔ مالی تحصیلات عالی.

۱۶- ارایهٔ گزارش فعالیت های مربوط، به وزارت تحصیلات عالی.

۱۷- انجام سایر وظایف طبق احکام اسناد تقنینی مربوط.

## بست های اکادمیک

مادهٔ دوازدهم:

بست های اکادمیک در مؤسسهٔ تحصیلات عالی:

۱- بست اکادمیک اعضای کادر علمی.

۲- بست های ریاست و معاونیت های مؤسسهٔ تحصیلی.

۳- بست های ریاست ها و معاونیت های پوهنځی ها.

۴- بست های آمریت های دیپارتمنت ها.

۵- بست های مسئولان ادارات مرکز انجام تحقیقات علمی، رؤسای شفاخانه های کادری مؤسسات تحصیلات عالی، نشرات، انسجام امور استادان، محصلان، کتابخانه، مراکز

لوړتیا د مرکــز، د ماســتری، دکتــورا دبرنــامو او د معلومــاتي تکنــالوژۍ د رئیسانو بستونه.

د تدریس ژبه

دیارلسمه ماده:

(۱) د لوړو زده کړو په مؤسســه کــې تدریس، د هېواد په رسمي ژبو صــورت مومي.

(۲) تدریس په بین المللي ژبو د اړتیا په صورت کې، د وزارت د لزوم دید لــه مخې او یا د دیپارتمنت په وړانــدیز او د پوهنځي د علمي شوري او د تحصــیلي مؤسسې د علمي شوري پــه تصــویب صورت موندلای شي.

په نصاب او درسي برنامو کې شــامل، د بهرنیو ژبو تدریس لــه دې امــر څخــه مستثنې دی.

د درسي نصاب تطبیق

څوارلسمه ماده:

د لوړو زده کړو مؤسسه، خپل درســي نصاب د دیپارتمنت له پرېکړې (فیصلې)، د پوهنځي د علمي شوري، د اړونــدې مؤسسې د علمي شوري او د عالي شوري

علمی، مرکز ارتقای کیفیت، برنامه های ماســتری و دوکتــورا وتکنــالوژی معلوماتی.

زبان تدریس

مادۀ سیزدهم:

(۱) تدریس در مؤسسۀ تحصیلات عالی به زبان های رسمی کشــور صــورت می گیرد.

(۲) تدریس به زبان های بین المللی در صورت ضرورت و بنا بر لــزوم دیــد وزارت و یا به پیشنهاد دیپارتمنــت و تصویب شورای علمی پوهنځی وشورای علمی مؤسسۀ تحصیلی صورت گرفتــه می تواند.

تدریس زبان های خارجی شامل نصاب و برنامه های درسی از این امر مســتثنی است.

تطبیق نصاب درسی

مادۀ چهاردهم:

مؤسسۀ تحصیلات عالی، نصاب درسی خود را بعد از فیصلۀ دیپارتمنت، تائیــد شورای علمی پوهنځی، شورای علمــی مؤسسۀ مربوط و تصویب شورای عالی

له تصویب وروسته تطبیقوي.

## د همکارۍ جلبول

**پنځلسمه ماده:**

د لوړو زده کړو مؤسسه کولای شي، له ملي او بین المللي مماثلو مؤسسو سره علمي او فرهنګي اړیکي رامنځته او د همکارۍ د جلبولو له پاره لازم تدبیرونه ونیسي.

## د لوړو زده کړو د مؤسسې علمي شوري

**شپاړسمه ماده:**

د تدریسي، څېړنیزو او اکادمیکو چارو د ښه سمون په منظور، د لوړو زده کړو په هره مؤسسه کې، علمي شوري جوړیږي.

## د مؤسسې د علمي شوري ترکیب

**اوولسمه ماده:**

(۱) د لوړو زده کړو د مؤسسې علمي شوري له لاندې غړو څخه جوړه ده:

۱- د لوړو زده کړو د مؤسسې رئیس، د رئیس په توګه.

۲- د لوړو زده کړو مرستیال یا

تطبیق می نماید.

## جلب همکاری

**مادۀ پانزدهم:**

مؤسسۀ تحصیلات عالی می تواند، روابط علمی و فرهنگی را با مؤسسات مماثل ملی و بین المللی ایجاد و جهت جلب همکاری آنها، تدابیر لازم اتخاذ نماید.

## شورای علمی مؤسسۀ تحصیلات عالی

**مادۀ شانزدهم:**

به منظور انسجام بهتر امور تدریسی، تحقیقی و اکادمیک در هر مؤسسۀ تحصیلات عالی، شورای علمی ایجاد می گردد.

## ترکیب شورای علمی مؤسسه

**مادۀ هفدهم:**

(۱) شورای علمی مؤسسۀ تحصیلات عالی متشکل از اعضای ذیل می باشد:

۱- رئیس مؤسسۀ تحصیلات عالی به حیث رئیس.

۲- معاون یا معاونان مؤسسۀ تحصیلات

مرستيالان، د غړو په توګه.

۳- د اړوندو پوهنځيو رئيسان، د غړو په توګه.

۴- له هر پوهنځي څخه دوه تنه استادان، د علمي کادر د غړو په واسطه، د آزادو، سري او مستقيمو انتخاباتو (غورونو) له لارې، دجنسيتي ترکيب (ښځينه او نارينه) په نظرکې نيولو سره د غړو په توګه، په هغهٔ صورت کې چې په تحصيلي مؤسسه کې د پوهنځيو شمېرلس او يا له هغو څخه لږ وي، پرته له دې له هر پوهنځي څخه يوتن د غړي په توګه.

(۲) د ماسترۍ او دکتورا د لوړو زده کړو د برنامو د مرکز، د علمي څېړنو د سمون د مرکز آمران، د لوړو زده کړو د مؤسسو د کادري روغتونونو، مرکزي کتابتون، خپرونو، معلوماتي ټکنالوژۍ او د لوړو زده کړو دکيفيت د لوړولو رئيسان، د اړتيا په صورت کې د غړو په توګه.

(۳) د استادانو د چارو دسمون آمر، د منشي په توګه.

عالی به حیث اعضاء.

۳- رؤسای پوهنځی های مربوط به حیث اعضاء.

۴- دونفر استاد از هرپوهنځی از طریق انتخابات آزاد، سری و مستقیم، توسط اعضای کادر علمی، با نظرداشت ترکیب جنسیتی (زن و مرد ) به حیث اعضاء. در صورتی که تعداد پوهنځی ها در مؤسسهٔ تحصیلی ده و یا کمتر از آن باشد، در غیر آن از هر پوهنځی یک نفر به حیث عضو.

(۲) آمرین مرکز برنامه های تحصیلات عالی ماستری و دکتورا، مرکز انسجام تحقیقات علمی، رؤسای شفاخانه های کادری مؤسسات تحصیلات عالی،کتابخانهٔ مرکزی، نشرات، تکنالوژی معلوماتی و ارتقای کیفیت تحصیلات عالی در صورت ضرورت به حیث اعضاء.

(۳) آمر انسجام امور استادان، به حیث منشی.

## د مؤسسې د علمي شورې دندې او واکونه

اتلسمه ماده:

د مؤسسې علمي شورې د لوړو زده کړو د تصمیم نیونې لوړه مرجع ده، د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- د تحصیلي مؤسسې د مرستیالانو د ټاکلو په اړه، د لوړو زده کړو د مؤسسې د رئیس وړاندیز.

۲- د اړوندې مؤسسې د لوړو زده کړو او علمي څېړنو د پالیسي طرح او ترتیب او واکمنو مراجعو ته د هغې وړاندیز.

۳- د درسي پلانونو او علمي- څېړنیزو برنامو تدوین او ارزونه.

۴- د پرمختیایي پلانونو طرح او وړاندیز.

۵- د زده کړه ییزو پلانونو او برنامو له تطبیق څخه څارنه.

٦- د پوهنځیو او دیپارتمنتونو د تأسیس، پراختیا، تجزیې، الحاق، ادغام او یا الغاء کتنه (مطالعه) او وړاندیز.

۷- د تفاهم لیکونو او د توأمیت د

## وظایف و صلاحیت های شورای علمی مؤسسه

مادۀ هجدهم:

شورای علمی مؤسسه، عالیترین مرجع تصمیم گیری تحصیلات عالی بوده، دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱- پیشنهاد رئیس مؤسسۀ تحصیلات عالی مبنی بر تعیین معاونان مؤسسۀ تحصیلی.

۲- طرح و ترتیب پالیسی تحصیلات عالی و تحقیقات علمی مؤسسۀ مربوط و پیشنهاد آن به مراجع ذیصلاح.

۳- تدوین و ارزیابی پلان های درسی و برنامه های علمی -تحقیقی.

۴- طرح و پیشنهاد پلان های انکشافی.

۵- نظارت از تطبیق پلان ها و برنامه های آموزشی.

٦- مطالعه و پیشنهاد تأسیس، توسعه، تجزیه، الحاق، ادغام و یا الغای پوهنځی ها و دیپارتمنت ها.

۷- پیشنهاد عقد، تعدیل، تمدید یا فسخ

قراردادونو د عقد، تعدیل، تمدید یا فسخ وړاندیز.

۸- له لېسانس څخه د لوړو علمي برنامو د دایرولو کتنه او وړاندیز.

۹- د علمي کادر دغړي د مقررېدو یا انفکاک د وړاندیز په هکله دتصمیم نیول.

۱۰- د علمي ترفیع ارزونه، د علمي رتبو تثبیت او د هغو تصویبول.

۱۱- د اړوندو پوهنځیو د اکادمیکو فعالیتونو ارزونه او د لوړو زده کړو وزارت ته د رپوټ وړاندې کول.

۱۲- د مرستیالیو، د خپرونو د آمریتونو، مرکزي کتابتون، د معلوماتي تکنالوژۍ د مرکز، د علمي څېړنو د چارود سمون د مرکز، د لوړو زده کړو د مؤسسې د ماسترۍ او دکتورا د برنامو د مرکز او د کیفیت د لوړولو او په دې برخه کې د ښه والي د لارو چارو دلټولو د فعالیتونو ارزونه.

۱۳- د ویاړمن (افتخاري) دیپلوم تصویب او د دکتورا د فعالې برنامې د لرلو په صورت کې د هغهٔ ورکړه.

۱۴- د اختصاصي کمیټو جوړول او هغو

تفاهم نامه ها و قراردادهای توأمیت.

۸- مطالعه و پیشنهاد تدویر برنامه های علمی بالاتر از لیسانس.

۹- اتخاذ تصمیم در مورد پیشنهاد مبنی بر تقرر یا انفکاک عضو کادر علمی.

۱۰- ارزیابی ترفیع علمی، تثبیت رتب علمی و تصویب آنها.

۱۱- ارزیابی فعالیت های اکادمیک پوهنځی های مربوط و ارایهٔ گزارش به وزارت تحصیلات عالی.

۱۲- ارزیابی فعالیت های معاونیت ها، آمریت های نشرات، کتابخانهٔ مرکزی، مرکز تکنالوژی معلوماتی، مرکز انسجام امور تحقیقات علمی، مرکز برنامه های ماستری و دوکتورای مؤسسهٔ تحصیلات عالی، ارتقای کیفیت و جستجوی راه های بهبود در زمینه.

۱۳- تصویب دیپلوم افتخاری واعطای آن در صورت داشتن برنامهٔ فعال دکتورا.

۱۴- ایجاد کمیته های اختصاصی و

ته د ځينو واکونو سپارل.

۱۵- د لايحو د طرح او تعديل وړانديز او د اړوندو کړنلارو تصويبول.

۱۶- په اړوندو تقنيني سندونو کې د درج شوو، نورو دندو سرته رسول.

## د مؤسسې د علمي شوري غونډې

**نولسمه ماده:**

(۱) د مؤسسې د علمي شوري عادي غونډې، هره مياشت يوځل دايريږي. فوق العاده غونډې د اړتيا له مخې د رئيس په تصميم يا د هغې د غړو د ثلث (درېيمې) په وړانديز دايريږي.

(۲) د مؤسسې د علمي شوري غونډې، د غړو د دوو ثلثو په حضور سره جوړيږي او تصويبونه يې د حاضرو غړو د رأيو په اکثريت نيول کېږي.

(۳) د مؤسسې د علمي شوري د مصوبې دوه يم ځلي طرح، د هغې د وروستنيو پړاوونو له تېرولو دمخه، د مؤجهو دلايلو د موجوديت پربناء د مؤسسې د علمي شوري د غړو د يوۀ ثلث په وړانديز او د هغې د غړو د رأيو د لږترلږۀ دوو ثلثو په تأييد، صورت موندلای شي.

تفويض برخی از صلاحيت ها به آنها.

۱۵- پيشنهاد طرح و تعديل لوايح و تصويب طرزالعمل های مربوط.

۱۶- انجام ساير وظايف و صلاحيت های مندرج اسناد تقنينی مربوط.

## جلسات شورای علمی مؤسسه

**مادۀ نزدهم:**

(۱) جلسات عادی شورای علمی مؤسسه هر ماه يکبار داير می گردد. جلسات فوق العاده نظر به ضرورت به تصميم رئيس يا پيشنهاد ثلث اعضای آن داير می گردد.

(۲) جلسات شورای علمی مؤسسه با حضور دو ثلث اعضاء داير و تصاويب آن به اکثريت آرای اعضای حاضر اتخاذ می گردد.

(۳)طرح دوبارۀ مصوبۀ شورای علمی مؤسسه ، قبل از طی مراحل نهايی آن، بنابر موجوديت دلايل مؤجه به پيشنهاد يک ثلث اعضای شورای علمی مؤسسه و تائيد حد اقل دو ثلث آرای اعضای آن، صورت گرفته می تواند.

(۴) د مؤسسې د علمي شورې تصويبونه، ددې قانون د حکمونو مطابق، د اجراء وړ او اړوندو مراجعو ته ابلاغېږي.

(۵) د مؤسسې د علمي شورې په غونډو پورې نورې اړوندې چارې، د جلا لايحې په واسطه تنظيمېږي.

## د لوړو زده کړو د مؤسسې رئيس او مرستيالان

**شلمه ماده:**

(۱) د لوړو زده کړو د مؤسسې په سر کې، رئيس دی، رئيس د تحصيلي مؤسسې د علمي او اداري چارو د پرمختيولو مسئول دی او له خپلو اجراآتو څخه د مؤسسې علمي شورې او د لوړو زده کړو وزارت، ته رپوټ ورکوي.

(۲) د لوړو زده کړو د مؤسسې رئيس د اړوندې مؤسسې د استادانو (پوهاند، پوهنوال او پوهندوی) له منځه څخه د لوړو زده کړو د وزير په وړانديز او د جمهور رئيس په منظورۍ د پنځو کلونو مودې له پاره غوره کېږي.

(۳) د لوړو زده کړو دمؤسسې مرستيالان د اتلسمې مادې د ۱ جزء مطابق، د دريو

(۴) تصاويب شورای علمی مؤسسه طبق احکام این قانون قابل اجراء و به مراجع مربوط ابلاغ می گردد.

(۵) سایر امور مربوط به جلسات شورای علمی مؤسسه توسط لایحهٔ جداگانه تنظیم می گردد.

## رئیس و معاونان مؤسسهٔ تحصیلات عالی

**مادهٔ بیستم:**

(۱) در رأس مؤسسهٔ تحصیلات عالی، رئیس قرار دارد. رئیس مسئول پیشبرد امور علمی و اداری مؤسسهٔ تحصیلی بوده و از اجراآت خویش به شورای علمی مؤسسه و وزارت تحصیلات عالی گزارش می دهد.

(۲) رئیس مؤسسهٔ تحصیلات عالی از میان استادان (پوهاند، پوهنوال و پوهندوی) مؤسسهٔ مربوط به پیشنهاد وزیرتحصیلات عالی و منظوری رئیس جمهور برای مدت پنج سال تعیین می گردد.

(۳) معاونان مؤسسهٔ تحصیلات عالی مطابق جزء۱ مادهٔ هجدهم برای مدت

کلونو موده له پاره ټاکل کېږي.

**غورونې (انتخابات)**

**یوویشتمه ماده:**

د لوړو زده کړو په مؤسسه کې په غورونو پورې اړوندې چارې، د تقنیني سند په واسطه تنظیمېږي.

**اداري مجلس (غونډه)**

**دوه ویشتمه ماده:**

(۱) د لوړو زده کړو په مؤسسه کې اړوندو چارو ته د لوري ورکولو او پروخت د اجراء په منظور، اداري غونډه فعالیت کوي.

(۲) په اداري غونډې پورې اړوندې چارې، د کړنلارې په واسطه تنظیمېږي.

**د پوهنځي تشکیل**

**درویشتمه ماده:**

پوهنځي د رئیس، مرستیال، علمي شورۍ، دیپارتمنتونو او د علمي او اداري کادر د غړو لرونکی وي.

دپوهنځي رئیس، د پوهنځي د علمي او اداري چارو د پرمخبیولو مسئول دی او له خپلو اجراآتو څخه د پوهنځي علمي

سه سال تعیین می گردند.

**انتخابات**

**مادهٔ بیست ویکم:**

امور مربوط به انتخابات در مؤسسهٔ تحصیلات عالی توسط سندتقنینی تنظیم می گردد.

**مجلس اداری**

**مادهٔ بیست و دوم:**

(۱) به منظور سمت دهی و اجرای به موقع امور مربوط در مؤسسهٔ تحصیلات عالی مجلس اداری فعالیت می نماید.

(۲) طرز فعالیت مجلس اداری توسط طرزالعمل تنظیم می گردد.

**تشکیل پوهنځی**

**مادهٔ بیست وسوم:**

پوهنځی دارای رئیس، معاون، شورای علمی، دیپارتمنت ها و اعضای کادرعلمی و اداری می باشد.

رئیس پوهنځی، مسئول پیشبرد امور علمی و اداری پوهنځی بوده و از اجراآت خویش به شورای علمی پوهنځی

شوري او د تحصيلي (زده کړه ييـــزې) اړوندې مؤسسې رئيس ته رپوټ ورکوي.

د پوهنځي رئيس

څلېريشتمه ماده:

د پوهنځي رئيس د اړونـــد پـــوهنځي د استادانو (پوهاند، پوهنوال او پوهندوي) له منځه څخه د لوړو زده کړو وزيـــر پـــه وړانديز او د جمهور رئيس په منظورۍ د پنځو کلونو مودې له پاره غوره کېږي.

د پوهنځي مرستيال

پنځه ويشتمه ماده:

د پوهنځي مرستيال، د علمي کادر د غړو له منځه څخه، د رئيس پـــه وړانـــديز، د تحصيلي اړوندې مؤسسې د رئيس په تأييد او واکمن مقام په منظورۍ ټاکل کېږي.

د پوهنځي مرستيال، د سپارل شوو دندو په اجراءکې د پوهنځي د رئيس په وړاندې مسئول دی.

د پوهنځي علمي شوري

شپږويشتمه ماده:

د پوهنځي د علمي او څېړنيزو چارو د ښه سمون په منظور، د پوهنځي علمي شوري

و رئيس مؤسسۀ تحصيلی مربوط گزارش می دهد.

رئيس پوهنځی

مادۀ بيست و چهارم:

رئـــيس پـــوهنځی از ميـــان اســـتادان (پـــــوهاند، پـــوهنـــوال و پوهندوی) پوهنځی مربوط بـــه پيشـــنهاد وزيـــر تحصيلات عالی و منظوری رئيس جمهور برای مدت پنج سال تعيين می گردد.

معاون پوهنځی

مادۀ بيست و پنجم:

معـــاون پـــوهنځی از ميـــان اعضـــای کادرعلمی پوهنځی به پيشنهاد رئـــيس، تائيد رئيس مؤسسۀ تحصيلی مربـــوط و منظوری مقام ذيصلاح تعيين می گردد.

معاون پوهنځی در اجرای امور محولـــه نـــزد رئـــيس پـــوهنځی مســـئول می باشد.

شورای علمی پوهنځی

مادۀ بيست وششم:

به منظور انسجام بهتر امـــور علمـــی و تحقيقی پوهنځی، شورای علمی پوهنځی

جوړېږي.

## د پوهنځي د علمي شوري ترکیب

**اووه ویشتمه ماده:**

د پوهنځي علمي شوري له لاندې غــړو څخه جوړه ده:

۱- د پوهنځي رئیس، د رئیس په توګه.

۲- د پوهنځي مرستیال، د غړي په توګه.

۳- د دیپارتمنتونو آمران، د غــړو پــه توګه.

۴- د آزادو، سري او مستقیمو غوروونو له لارې، د هر دیپارتمنت دعلمي کادر له غړو څخه دوه تنه د غړو په توګه، په هغهٔ صورت کې چې د دیپارتمنتونو شمېر پنځه یا له هغو څخه لږوي، پرته له دې له هر دیپارتمنــــت څخـــــه یـــــو تــــن، د غړي په توګه.

۵- د پوهنځي د علمي شوري منشي، د علمي شوري د غړو له منځه غوره کېږي.

## د پوهنځي د علمي شوري دندې او واکونه

**اته ویشتمه ماده:**

(۱) د پوهنځي علمي شوري د لانــدې

ایجاد می گردد.

## ترکیب شورای علمی پوهنځی

**مادهٔ بیست وهفتم:**

شورای علمی پوهنځی متشکل از اعضای ذیل می باشد:

۱- رئیس پوهنځی به حیث رئیس.

۲- معاون پوهنځی به حیث عضو.

۳- آمران دیپارتمنت هــا بــه حیــث اعضاء.

۱- د پوهاند او پوهنوال د علمي رتبـــې لرل.

۲- په اکادمیکو چاروکې لږترلږهٔ د لسو کلونو تجربې لرل.

۳- د نېک شهرت او حمیـــده اخلاقـــو لرل.

(۲) بورد دارای رئیس، معاون و منشی می باشد که در اولین جلســـه از میـــان اعضای آن به اســـاس انتخابـــات آزاد، سری و مستقیم انتخاب می گردند.

(۳) اعضای بورد حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به پیشنهاد معینیـــت علمـــی و منظوری وزیر تحصیلات عـــالی تعیـــین می گردد.

## شرایط عضویت بورد ارتقای کیفیت و اعتباردهی اکادمیک

**مادهٔ پنجاه وچهارم:**

اعضـــای بـــورد ارتقـــای کیفیـــت و اعتبار دهی اکادمیک ازمیان اســـتادان واجـــد شـــرایط ذیـــل تعیـــین می شود:

۱- داشـــتن رتبـــهٔ علمـــی پوهانـــد و پوهنوال.

۲- داشتن تجارب حد اقل ده سال در امور اکادمیک.

۳- داشتن شـــهرت نیـــک و اخـــلاق حمیده.

## د کيفيت د لوړولــو او اکـــادميکې اعتبار ورکونې د ادارې، دنـــدې او واکونه

**پنځه پنځوسمه ماده:**

**(۱) د کيفيت د لوړولــو او اکـــادميکې اعتبار ورکونې اداره د لا ندې دنـــدو او واکونو لرونکې ده:**

**۱- د منل شوو معيارونو په رعايتولو سره د دولتي او خصوصي لوړو زده کـــړو د مؤسسې علمي ارزونه.**

**۲- د لوړو زده کړو د مؤسسې د فعاليت د ادامې يا توقف په هکله، د تصميم نيول او عالي شوري ته د هغهٔ وړانديز.**

**۳- د اړوندو دندو د لايحې تصويب.**

**(۲) د لوړو زده کړو د مؤسسو، دکيفيت د لوړولو او اکادميکې اعتبار ورکونې د ادارې او بورد د فعاليت ډول، په جـــلا تقنيني سند کې تنظيمېږي.**

## وظايف و صـــلاحيت هـــای ادارهٔ ارتقـــای کيفيـــت واعتبـــاردهی اکادميک

**مادهٔ پنجاه وپنجم:**

**(۱) ادارهٔ ارتقای کيفيت واعتبار دهـــی اکادميک دارای وظايف و صـــلاحيت های ذيل می باشد:**

**۱- ارزيابی علمی مؤسسهٔ تحصـــيلات عالی دولتی و خصوصی بـــا رعايـــت معيارهای پذيرفته شده.**

**۲- اتخاذ تصميم در مورد ادامه يا توقف فعاليت مؤسسهٔ تحصـــيلات عـــالی و پيشنهاد آن به شورای عالی.**

**۳- تصويب لايحهٔ وظايف مربوط.**

**(۲) طرز فعاليت اداره و بورد ارتقـــای کيفيت واعتبار دهی اکادميک مؤسسات تحصيلات عالی در سند تقنينی جداگانـــه تنظيم می گردد.**

## شپږم فصل

## د لوړو زده کړو د مؤسسو محصلين

### د لېسانس په برنامو کې منل کېدل

**شپږ پنځوسمه ماده:**

د دوولسمو او څوارلسمو او د هغـو د معادل ټولګيو فـارغين، د شـاملېدو د ازموينې له برياليـ تېرولـو وروسـته، د اړوندو مقرراتو او لوايحو مطابق، د لوړو زده کړو په مؤسسه کې د محصـل پـه توګه منل کېږي.

### د ماسترۍ او دکتورا په برنامو کـې منل کېدل

**اووه پنځوسمه ماده:**

(۱) د فـوق لېسـانس (ماسـترۍ او دوکتورا) په سويه د لـوړو زده کـړو د زمينې د برابرولو په منظـور، اړونـدې برنامې د لوړو زده کړو په مؤسسه کـې دايرېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج محصلينو د منلو او حق الاجرت (فيس) شرايط او د فوق لېسانس (ماسـترۍ او

## فصل ششم

## محصلان مؤسسات تحصيلات عالی

### پذيرش در برنامه های ليسانس

**مادۀ پنجاه وششم:**

فارغان صنوف دوازدهم وچهاردهم يـا معادل آنها، پـس از سـپری نمـودن موفقانۀ امتحان شمول، مطابق مقررات و لوايح مربوط در مؤسسۀ تحصيلات عالی بـه حيـث محصـل پذيرفتـه می شوند.

### پذيرش در برنامه های ماسـتری و دکتورا

**مادۀ پنجاه وهفتم:**

(۱) به منظـور فـراهم آوری زمينـۀ تحصيلات عالی به سويۀ فوق ليسـانس (ماستری و دکتورا )برنامه های مربوط در مؤسسۀ تحصيلات عالی دايـر مـی گردد.

(۲) شرايط پذيرش و اخذ حق الاجرت (فيس) محصلان مندرج فقرۀ (۱) ايـن ماده وطرزفعاليت برنامه هـای فـوق

دکتورا) د برنامو د فعالیت ډول، د جلا مقررې په واسطه تنظیمېږي.

### د شپې زده کړې

**اته پنځوسمه ماده:**

(۱) د لوړو زده کړو مؤسسه، د هېواد ټولنیزو او اقتصادي اړتیاوو ته په پام سره کولای شي، د ملکي خدمتونو دکارکوونکو او د هېواد د نورو اتباعو له پاره، د زده کړو د زمینې د برابرولو په منظور، د شپې برنامې، رامنځته کړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو محصلینو د منلو او دحق الاجرت (فیس) د اخیستلو شرایط او د شپې برنامو د فعالیت ډول، د مقررې په واسطه تنظیمېږي.

### د محصل حقوق او امتیازونه

**نهه پنځوسمه ماده:**

د لوړو زده کړو د مؤسسې محصل، د لاندې حقوقو او امتیازونو لرونکی دی:

۱- په تحصیلي برنامو کې نظري او عملي زده کړې ته لاس رسی.

۲- د زده کړې د وضع د ښه والي له پاره وړاندیز کول.

لیسانس (ماستری و دکتورا) توسط مقررهٔ جداگانه تنظیم می گردد.

### تحصیل شبانه

**مادهٔ پنجاه وهشتم:**

(۱) مؤسسهٔ تحصیلات عالی نظر به ضرورت های اجتماعی و اقتصادی کشور می تواند برنامه های شبانه را به منظور فراهم آوری زمینهٔ تحصیل برای کارکنان خدمات ملکی و سایر اتباع کشور ایجاد نماید.

(۲) شرایط پذیرش و اخذ حق الاجرت (فیس) محصلان مندرج فقرهٔ (۱) این ماده و طرز فعالیت برنامه های شبانه توسط مقرره تنظیم می گردد.

### حقوق و امتیازات محصل

**مادهٔ پنجاه ونهم:**

محصل مؤسسهٔ تحصیلات عالی، دارای حقوق و امتیازات ذیل می باشد:

۱- دسترسی به آموزش نظری وعملی در برنامه های تحصیلی .

۲- ارایهٔ پیشنهاد جهت بهبود وضع آموزش.

۳- د اړوندو تقنيني سندونو مطـــابق، د محصلينو د ادبي، فرهنګي، علمي ټولنو او کلوپونو تأسيس.

۴- د اړوندو لايحو مطابق، د تحصـــيلي مؤسسې له کتابتونو او نورو زده کړه ييزو امکاناتو څخه استفاده.

۵- له سپورتي کلوپونـــو او روغتيـــايي خدمتونو څخه استفاده.

٦- د تقنيني سند مطابق، د ليسانس پـــه دوره کې د ليليې له امتياز څخه استفاده.

۷- له اختصاصي کمښتونو (تخفيفونو) څخه استفاده.

## د محصل مکلفيتونه

**شپېتمه ماده:**

(۱) محصل د لاندې مکلفيتونو لرونکی دی:

۱- د قوانينو، مقرراتو، لايحو، تصويبونو او اړونـــــدو کـــــړنلارو د حکمونـــــو رعايتول.

۲- په درسي برنامو کې فعال ګډون.

۳- د اکاډميک چاپـــېريال د نظـــم او دسپلين رعايتول او د نورو له آزارولو او ځورولو څخه ډډه کول.

۳- تأسيس انجمن های ادبی، فرهنگی، علمی و کلوپ های محصلان طبق اسناد تقنينی مربوط.

۴- استفاده از کتابخانه هـــا و ســـاير امکانات آموزشی مؤسسهٔ تحصيلی طبق لوايح مربوط.

۵- استفاده از کلوپ های ســـپورتی و خدمات صحی.

٦- استفاده از امتيـــاز ليليـــه در دورهٔ ليسانس طبق سند تقنينی مربوط.

۷- اســـــتفاده از تخفيـــــف هـــــای اختصاصی.

## مکلفيت های محصل

**مادهٔ شصتم:**

(۱) محصل دارای مکلفيت های ذيـــل می باشد:

۱- رعايت احکام قوانين، مقـــررات، لوايح، تصاويب و طرز العمـــل هـــای مربوط.

۲- اشتراک فعال در برنامه های درسی.

۳- رعايت نظـــم و دســـپلين محـــيط اکادميک واجتنـــاب از آزار و اذيـــت ديگران.

**۴- په تحصیلي مؤسسه کې له ودانیو، وسایلو او نورو اسانتیاوو څخه مسئولانه استفاده.**

**۵- په اکادمیک چاپیریال کې، له هر ډول توپیري (تبعیضي)، قومي، لساني، مذهبي او سیاسي فعالیت له مظاهرو څخه ډډه کول.**

**(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو حکمونو څخه د سرغړونې په صورت کې، د لوړو زده کړو مؤسسه مکلفه ده، له احوالو سره سم، د اړوندې لایحې مطابق، لازم انضباطي تدبیرونه ونیسي.**

## د بهرني محصل زده کړې

**یوشپیتمه ماده:**

**(۱) د هېواد د لوړو زده کړو په مؤسسه کې د بهرني محصل زده کړې، د قانون د حکمونو مطابق مجاز دي.**

**(۲) د منلو ډول او نورې اړوندې چارې د تقنیني سند په واسطه تنظیمېږي.**

## دوه یم دیپلوم

**دوه شپیتمه ماده:**

**(۱) هغه شخص چې د لېسانس یا له هغهٔ**

**۴- استفادهٔ مسئولانه از ساختمان ها، وسایل و سایر سهولت ها در مؤسسهٔ تحصیلی.**

**۵- اجتناب از هرگونه فعالیت و مظاهر تبعیضی، قومی، لسانی، مذهبی و سیاسی در محیط اکادمیک.**

**(۲) در صورت تخلف از احکام مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مؤسسهٔ تحصیلات عالی مکلف است، حسب احوال تدابیر لازم انضباطی را طبق لایحهٔ مربوط اتخاذ نماید.**

## تحصیل محصل خارجی

**مادهٔ شصت ویکم:**

**(۱) تحصیل محصل خارجی در مؤسسهٔ تحصیلات عالی کشور طبق احکام قانون مجاز می باشد.**

**(۲) طرز پذیرش و سایر امور مربوط توسط سند تقنینی تنظیم می گردد.**

## دیپلوم دوم

**مادهٔ شصت ودوم:**

**(۱) شخصی که سند تحصیلی**

ځخه لوړ تحصیلي سند یې د لوړو زده کړو له دولتي مؤسسې څخه لاس ته راوړی دی، په عین سویه د دوه یم دیپلوم د ترلاسه کولو په منظور، نشي کولای، د لوړو زده کړو په دولتي مؤسسه کې شامل شي.

(۲) هغه شخص چې له لیسانس څخه لوړ تحصیلي سند یې د لوړو زده کړو له دولتي یا خصوصي مؤسسې ځخه، لاس ته راوړی دی، په عین سویه د دوه یم دیپلوم د ترلاسه کولو له پاره کولای شي، د لوړو زده کړو په خصوصي مؤسسه کې شامل شي.

## د تحصیلي سند ورکړه

**دري شپېتمه ماده:**

هغه محصل چې د تحصیل دوره د لوړو زده کړو په مؤسسه کې بریالۍ پای ته رسوي، د تحصیلي رشتې او درجې مطابق، هغه ته تحصیلي سند (دیپلوم) او د نومرو ترانسکرېپت ورکول کېږي.

## د تحصیلي سند امتیاز

**څلورشپېتمه ماده:**

په دولتي ادارو کې د تحصیلي سند امتیاز

لیسانس و یا بالاتر از آن را از مؤسسهٔ تحصیلات عالی دولتی به دست آورده است، به منظور کسب دیپلوم دوم به عین سویه، نمی تواند شامل مؤسسهٔ تحصیلات عالی دولتی گردد.

(۲) شخصی که سند تحصیلی بالاتر از لیسانس را از مؤسسهٔ تحصیلات عالی دولتی و یا خصوصی به دست آورده است، به منظور کسب دیپلوم دوم به عین سویه می تواند شامل مؤسسهٔ تحصیلات عالی خصوصی گردد.

## توزیع سند تحصیلی

**مادهٔ شصت وسوم:**

محصلی که دورهٔ تحصیل را در مؤسسهٔ تحصیلات عالی مؤفقانه به پایان می رساند، مطابق رشته و درجهٔ تحصیلی به آن سند تحصیلی (دیپلوم) و ترانسکرېپت نمرات توزیع می گردد.

## امتیاز سند تحصیلی

**مادهٔ شصت و چهارم:**

امتیاز سند تحصیلی در ادارات دولتی

په لاندې ډول دی:

۱- د لېسانس د تحصیلي سند امتیاز، دوه زره (۲۰۰۰) افغانۍ.

۲- د ماسترۍ د تحصیلي سند امتیاز، څلور زره (۴۰۰۰) افغانۍ.

۳- د دکتورا تحصیلي سند امتیاز، شپږ زره (۶۰۰۰) افغانۍ.

## اووم فصل

## متفرقه حکمونه

**بودجه**

**پنځه شپېتمه ماده:**

(۱) کلنۍ عادي او پرمختیایي بودجه د لوړو زده کړو د دولتي مؤسسې په واسطه، د هرې مؤسسې د پرمختیایي او عادي پلان پربنسټ ترتیب او د قانوني پړاوونو د تېرولو له پاره، د لوړو زده کړو وزارت ته استول کېږي.

(۲) د لوړو زده کړو د دولتي مؤسسې بودجه، خپله د مؤسسې په واسطه تطبیقېږي.

(۳) د لوړو زده کړو دولتي مؤسسه کولای شي، د خپلو هدفونو د پرمختیا او

قرار ذیل می باشد:

۱- امتیاز سند تحصیلی لیسانس، مبلغ دو هزار (۲۰۰۰) افغانی .

۲- امتیاز سند تحصیلی ماستری، مبلغ چهار هزار (۴۰۰۰) افغانی.

۳- امتیاز سند تحصیلی دکتورا، مبلغ شش هزار (۶۰۰۰) افغانی.

## فصل هفتم

## احکام متفرقه

**بودجه**

**مادۀ شصت پنجم:**

(۱) بودجۀ عادی وانکشافی سالانه توسط مؤسسۀ تحصیلات عالی دولتی به اساس پلان انکشافی وعادی هر مؤسسه ترتیب و جهت طی مراحل قانونی به وزارت تحصیلات عالی ارسال می گردد.

(۲) بودجۀ مؤسسۀ تحصیلات عالی دولتی توسط خود مؤسسه تطبیق می گردد.

(۳) مؤسسۀ تحصیلات عالی دولتی می تواند به منظور انکشاف و پیشبرد

پرمخبیولو په منظور، عایداتي خدمتونه او فعالیتونه وړاندې او د کورنیو او بهرنیو حقیقي او حکمي اشخاصو مرستې راجلب او له دغو مرستو او خپلو نورو عوایدو څخه، د پوهنتونونو د مالي استقلالیت د مقررې د حکمونو په رعایتولو سره، استفاده وکړي.

## قیمومیت

**شپږ شپېتمه ماده:**

دولتي تحصیلي مؤسسه چې د لازم ظرفیت لرونکې نه وي، د خپلو علمي چارو د پرمخبیولو په منظور، له شرایطو لرونکو نږدې پوهنتونونو څخه د یوهٔ تر قیمومیت لاندې راځي.

## علمي څېړنې

**اووه شپېتمه ماده:**

د لوړو زده کړو په دولتي او خصوصي مؤسسه کې، علمي څېړنې او د علمي کادر د غړو د هڅونې او تأدیب ډول، د تقنیني سند مطابق تنظیمېږي.

اهداف خود، خدمات و فعالیت های عایداتی را عرضه وکمک های اشخاص حقیقی و حکمی داخلی و خارجی را جلب و از این کمک ها و سایر عواید خود، با رعایت احکام مقررهٔ استقلالیت مالی پوهنتون ها استفاده به عمل آورد.

## قیمومیت

**مادهٔ شصت وششم:**

مؤسسهٔ تحصیلی دولتی که دارای ظرفیت لازم نباشد، برای پیشبرد امورعلمی خویش،تحت قیمومیت یکی از پوهنتون های نزدیک واجد شرایط، قرار می گیرد.

## تحقیقات علمی

**مادهٔ شصت وهفتم:**

تحقیقات علمی،طرز تشویق و تأدیب اعضای کادرعلمی در مؤسسهٔ تحصیلات عالی دولتی وخصوصی طبق سندتقنینی تنظیم می گردد.

## د اصولو او ارزښتونو رعايتول

**اته شپېتمه ماده:**

(۱) د علمي کادر غړي، په دې قانون او نورو اړوندو تقنيني سندونو کې د درج شوو دندو او واکونو په اجراء، مکلف دي.

(۲) د علمي کادر غړي په تدريس، څېړنه، د علمي او اداري خدمتونو په وړاندې کولو کې د اکاډميکو اصولو او ارزښتونو په رعايتولو مکلف دي.

(۳) د علمي کادر غړي، د ورځنيو (يوميه) کاري ساعتونو په بشپړولو مکلف دي په رسمي وختونو کې نشي کولای، په نورو دندو بوخت شي.

## د رتبې تثبيت

**نهه شپېتمه ماده:**

(۱) د پوهيالي د علمي رتبې لرونکي د علمي کادر غړی په هغه صورت کې چې ددې قانون د اووه دېرشمې مادې د ۱ جزء شرايط يې بشپړ کړي وي، د پوهنيار په علمي رتبه تثبيت رتبه کېږي.

(۲) که چېرې د پوهيالي د علمي کادر غړی، ددې مادې په (۱) فقره کې درج

## رعايت اصول و ارزش ها

**مادۀ شصت وهشتم:**

(۱) اعضای کادرعلمی مکلف به اجرای وظايف و صلاحيت های مندرج اين قانون و ساير اسناد تقنينی مربوط می باشند.

(۲) اعضای کادرعلمی مکلف به رعايت اصول و ارزش های اکادميک در تدريس، تحقيق، عرضۀ خدمات علمی و اداری می باشند.

(۳) اعضای کادرعلمی مکلف به تکميل ساعات کاری يوميه بوده در اوقات رسمی نمی توانند به وظايف ديگر اشتغال داشته باشند.

## تثبيت رتبه

**مادۀ شصت ونهم:**

(۱) عضو کادرعلمی دارای رتبۀ علمی پوهيالی در صورتيکه شرايط جزء ۱ مادۀ سی وهفتم اين قانون را تکميل نموده باشد به رتبۀ علمی پوهنيار تثبيت رتبه می گردد.

(۲) هرگاه عضو کادرعلمی پوهيالی شرايط مندرج فقرۀ (۱) اين ماده را

شوي شرايط بشپړ نکړي، د پورته شرايطو تر بشپړېدو پورې د پوهنيار د علمي رتبې پنځه او يا (۷۵) سلنه معاش ورکول کېږي.

## د لوړو زده کړو د مؤسسې د ملکي خدمتونو کارکوونکي

**اويايمه ماده:**

د لوړو زده کړو د دولتي مؤسسې د ملکي خدمتونو کارکوونکي، د کار د قانون او د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د حکمونو تابع دي.

## د مقررو، لايحو او کړنلارو وضع کول

**يو اويايمه ماده:**

د لوړو زده کړو وزارت کولای شي، ددې قانون د حکمونو د ښه تطبيق په منظور، مقررې له پړاوونو څخه تېرې او لايحې او کړنلارې وضع کړي.

## انفاذ

**دوه اويايمه ماده:**

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ اوپه نافذېدو سره يې د ۱۵/ ۸/ ۱۳٦۸ نېټې

تکميل نه نمايد الی تکميل شرايط فوق، هفتاد و پنج فيصد (۷۵) معاش رتبهٔ علمی پوهنيار برايش پرداخته می شود.

## کارکن خدمات ملکی مؤسسهٔ تحصيلات عالی

**مادهٔ هفتادم:**

کارکن خدمات ملکی مؤسسهٔ تحصيلات عالی دولتی تابع احکام قانون کار و قانون کارکنان خدمات ملکی می باشد.

## وضع مقرره ها، لوايح و طرزالعمل ها

**مادهٔ هفتاد ويکم:**

وزارت تحصيلات عالی می تواند به منظور تطبيق بهتر احکام اين قانون مقرره ها را طی مراحل ولوايح و طرزالعمل ها را وضع نمايد.

## انفاذ

**مادهٔ هفتاد ودوم:**

اين قانون از تاريخ توشيح نافذ و با انفاذ آن قانون مؤسسات تحصيلات عالی

په (۷۰۳) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د ملکي لوړو زده کړو د مؤسسو قانون، د ۲٦/ ۸/ ۱۳۷۲ نېټې (۵۳٦) ګڼه فرمان او دهغه نور مغایر حکمونه لغو کېږي.

ملکی منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۷۰۳) مؤرخ ۱۳٦۸/۸/۱۵، فرمان شماره (۵۳٦) مؤرخ ۱۳۷۲/۸/۲٦ و سایر احکام مغایر آن لغو می گردد.

# دافغانستان اسلامي جمهوریت
## دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

### فوق العاده ګڼه

- دملکي لوړوزده کړودقانون دځینومادو تعدیل، ایزاداوحذف
- دنفت اوګازو(هایدروکاربونونو) دقانون په ځینومادوکې تعدیل اوایزاد
- دتحصیلي سندونودارزونې دمقررې ددریمې مادې(۲)فقره اوداتلسمې مادې تعدیل
- دافغانستان برېښناشرکت داساسنامې دیودېرشمې مادې د(۲)فقرې د(۵)جزء تعدیل
- دشهیدانو اوورکوشوو دپاتې کسانو دحقوقو او امتیازونو دقانون(۴)ګڼه ضمیمه

- تعدیل، ایزادوحذف برخی ازموادقانون تحصیلات عالی ملکی
- تعدیل وایزاددربرخی ازموادقانون نفت وګاز(هایدروکاربن ها)
- تعدیل فقرۀ(۲)مادۀ سوم ومادۀ هجدهم مقررۀ ارزیابی اسناد تحصیلی
- تعدیل جزء(۵)فقرۀ(۲)مادۀ سی ویکم اساسنامۀ دافغانستان برشناشرکت
- ضمیمۀ شماره(۴)قانون حقوق وامتیازات بازماندگان شهدا ومفقودین

دخپرېدونېټه: د۱۳۹۶هـ.ش کال دچنګاښ دمیاشتې (۲۵)
پرله پسې نمبر:(۱۲۶۵)

تاریخ نشر:(۲۵) سرطان سال ۱۳۹۶ هـ . ش
نمبر مسلسل:(۱۲۶۵)

| | |
|---|---|
| د امتیـــاز خاوند: | دعدلیـــي وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمـــم:محمد جان | ۰۷۴۷٦۲۷۹۳۰ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت(به اساس قرارداد): (۱۱،۴)افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰)جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۳۸)صفحه

مطبعه: پرویـــــز

آدرس:وزارت عـــدلیه،ریاست نشرات و ارتباطعـــامه،سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان (شیرپور)کابل

**د ملکي لوړو زده کړو د قانون**
**د ځینو مادو د تعدیل، ایزاد او حذف**
**د توشېح په هکله، دافغانستان اسلامي**
**جمهوریت د رئیس**
**تقنیني فرمان**

**ګڼه:(۲۵۲)**

**نېټه: ۱۳۹۵/۱۲/۱۴**

**لومړۍ ماده:**

دافغانستان د اساسي قانون دځلورشپېتمې مادې د (۱٦) فقرې او د نهه اویـــایمې مادې د حکم له مخې، د ۱۳۹۴ هــ.ش کال د لړم د (۹) نېټې په (۱۱۹۵) ګڼــه رسمي جریده کې خپورشـــوي د ملکـــي لوړوزده‌کړو د قانون د (۳) مـــادې (۴) جزء، د (۱۲) مادې (۳ او ۵) اجزاوې، د(۲۰) مادې (۲) فقــره، (۲۴) مـــاده، د(۳٦) مادې (۳)فقـــره، (۳۷) مـــاده، (۵۰) ماده او د (٦۹) مادې (۲) فقرې تعدیل، په (۲) ماده کې (۷) جزء او پـــه (۴٦) ماده کې د(۳، ۴، ۵ او٦) فقرو ایزاد او د (۴۳) مـــادې د (۳) فقـــرې حذف چـــې د افغانســـتان د اســـلامي جمهوریت دکـــابینې د ۱۳۹۵/۱۲/۱۲

**فرمان تقنینی**
**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**
**درمورد توشیح تعدیل، ایزاد**
**و حذف برخی از مواد**
**قانون تحصیلات عالی ملکی**

**شماره :(۲۵۲)**

**تاریخ : ۱۳۹۵/۱۲/۱۴**

**مادۀ اول:**

بـــه تأســـی از حکـــم فقـــرۀ (۱٦) مـــادۀ شصـــت و چهـــارم و مـــادۀ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانســـتان، تعدیل جزء (۴) مـــادۀ (۳)، اجـــزای (۳ و ۵) مـــــادۀ (۱۲)، فقـــــرۀ (۲) مـــادۀ (۲۰)، مـــادۀ (۲۴)، فقـــرۀ (۳) مادۀ (۳٦)، مـــادۀ (۳۷)، مـــادۀ (۵۰) و فقرۀ (۲) مـــادۀ (٦۹)، ایـــزاد جزء (۷) در مادۀ (۲) و فقـــره‌هـــای (۳، ۴، ۵ و ٦) در مادۀ (۴٦) و حذف فقرۀ (۳) مادۀ (۴۳) قانون تحصـــیلات عالی ملکی منتشـــرۀ جریـــدۀ رســـمی (۱۱۹۵) مـــؤرخ (۹) عقـــرب ســـال ۱۳۹۴ هـــ.ش را که بر اساس مصـــوبۀ شماره (۲۴) مـــؤرخ ۱۳۹۵/۱۲/۱۲

نېټې د (۲۴) ګڼـې مصوبې پرېنسـپ تصويب شوي دي، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

د عدليې وزير او په پارلماني چارو کې د دولت وزير مؤظف دي، دملکي لـوړو زده‌کړو دقانون دځينو مواد و تعديل،ايزاد او حذف متن او دغه فرمان د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې هغـې شوري ته وړاندې کړي.

**درېيمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د مصوبې او د ياد شوي قانون د تعـديل او ايزاد له متن سـره يوځـاى دې، پــه رسمي جريده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

کابينۀ جمهـوری اسـلامی افغانسـتان تصويب گرديده است، توشيح می‌دارم.

**مادۀ دوم:**

وزير عدليه و وزيـر دولـت در امـور پارلمانی مؤظف اند، متن تعديل، ايزاد و حذف برخی از مواد قانون تحصـيلات عالی ملکی واين فرمـان را در خـلال (۳۰) روز از تاريخ انعقـاد نخسـتين جلسۀ شورای ملی به آن شورا تقـديم نمايند.

**مادۀ سوم:**

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ، همـراه با مصوبۀ کابينـۀ جمهـوری اسـلامی افغانستان و متن تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون مذکور، در جريدۀ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

**د ملکي لوړو زده کړو د قانون**
**د ځینو مادو د تعدیل، ایزاد او حذف**
**د طرحې په هکله،**
**د افغانستان اسلامي جمهوریت**
**د کابینې مصوبه**

**ګڼه:(۲۴)**

**نېټه:۱۳۹۵/۱۲/۱۲**

د افغانستان د اساسي قانون د (۷۹) مادې دحکم له مخې، د ۱۳۹۵ هـ.ش کال د لړم د(۹) نېټې په (۱۱۹۴) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوي د ملکي لوړو زده کړو د قانون د (۳) مادې (۴) جزء، د (۱۲) مادې (۳ او۵) اجزاوې، د (۲۰) مادې (۲) فقره، (۲۴) ماده، د (۳٦) مادې (۳)فقره، (۳۷) ماده، (۵۰) ماده او د (٦۹) مادې (۲) فقرې تعدیل، په (۲) ماده کې (۷) جزء او په (۴٦) ماده کې د(۳، ۴، ۵ او٦) فقرو ایزاد او د (۴۳) مادې د (۳) فقرې حذف چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۳۹۵/۱۲/۱۲ نېټې د (۲۴) ګڼې مصوبې پربنسټ تصویب شوي دي، د

**مصوبهٔ کابینهٔ**
**جمهوری اسلامی افغانستان**
**درمورد طرح تعدیل، ایزاد و**
**حذف برخی از مواد قانون**
**تحصیلات عالی ملکی**

**شماره :(۲۴)**

**تاریخ : ۱۳۹۵/۱۲/۱۲**

به تأسی از حکم مادهٔ (۷۹) قانون اساسی افغانستان، طرح تعدیل جزء (۴) مادهٔ (۳)، اجزای (۳ و ۵) مادهٔ (۱۲)، فقرهٔ (۲) مادهٔ (۲۰)، مادهٔ (۲۴)، فقرهٔ (۳) مادهٔ (۳٦)، مادهٔ (۳۷)، مادهٔ (۵۰) و فقرهٔ (۲) مادهٔ (٦۹)، ایزاد جزء(۷) در مادهٔ (۲) و فقره‌های (۳، ۴، ۵ و٦) در مادهٔ (۴٦) و حذف فقرهٔ (۳) مادهٔ (۴۳) قانون تحصیلات عالی ملکی منتشرهٔ جریدهٔ رسمی (۱۱۹۵) مؤرخ (۹) عقرب سال ۱۳۹۴ هـ.ش که در جلسهٔ شماره (۲۴) مؤرخ ۱۳۹۵/۱۲/۱۲ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان مورد تصویب قرار گرفته است، طی فرمان

تقنيني فرمان په ترڅ کې نافذېږي.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

تقنینی نافذ می‌گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**د ملكي لوړو زده كړو د قانون د ځينو مادو تعديل، ايزاد او حذف**

**لومړۍ ماده:**

د ۱۳۹۴ كال په (۱۱۹۵) ګڼه رسمي جريده كې خپورشوي د ملكي لوړو زده‌كړو د قانون د درييمې مادې ۴ جزء، د دوولسمې مادې(۳او ۵) اجزاء،دشلمې مادې (۲) فقره، څلېريشتمه ماده، دشپږ دېرشمې مادې (۳) فقره، اووه دېرشمه ماده، پنځوسمه ماده او د نهه شپېتمې مادې (۲) فقره دې په لاندې ډول تعديل شي:

**۱- درېيمه ماده:**

۴- پوهنتون: زده كړه ييزه(تحصيلي) مؤسسه ده چې لږ تر لږه شپږ پوهنځي، معياري مناسب ځاى، د دوكتورا (PHD) تحصيلي سويې يا د پوهندوى او له هغۀ څخه د لوړې علمي رتبې لرونكو استاذانو د (۱۰) سلنې درلودونكې وي، معياري درسي نصاب،څېړنيز (تحقيقاتي) فعاليتونه، د علمي څېړنو د سمون (انسجام) مركز، علمي مجله، كتابتون، انترنېټي آسانتياوې،

**تعديل، ايزاد وحذف برخی از مواد قانون تحصيلات عالی ملکی**

**مادۀ اول:**

جزء ۴ مادۀ سوم، اجزای (۳ و ۵) مادۀ دوازدهم، فقرۀ (۲) مادۀ بيستم، مادۀ بيست و چهارم، فقرۀ (۳) مادۀ سی و ششم، مادۀ سی وهفتم، مادۀ پنجاهم و فقرۀ (۲) مادۀ شصت ونهم قانون تحصيلات عالی ملکی منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۱۹۵) سال ۱۳۹۴ ذيلاً تعديل گردد:

**۱- مادۀ سوم :**

۴- پوهنتون: مؤسسۀ تحصيلی است که حداقل دارای شش پوهنځی، محل مناسب معياری، (۱۰) فيصد استادان دارای سويۀ تحصيلی دوکتورا (PHD) يا رتبۀ علمی پوهندوی و بالاتر از آن بوده، نصاب درسی معياری، فعاليت های تحقيقاتی، مرکز انسجام تحقيقات علمی، مجلۀ علمی، کتابخانه، سهولت‌های انترنيتی، لابراتوارهای فعال، ليليه،

کارنده (فعال) لابراتوارونه، ليليه، ورزشي امکانات، د معلوماتي تکنالوژۍ مرکز او لږ ترلږه د ماسترۍ يا له هغې څخه لوړه يوه برنامه لرونکې وي.

**۲- دوولسمه ماده:**

۳- د رياست او د علمي او محصلينو مرستيالانو بستونه.

۵- د علمي څېړنو د سمون د مرکز د ادارو دمسئولانو، د لوړو زده کړو دمؤسسو دکادري روغتونونو، د استاذانو د چارو د سمون، د علمي مرکزونو، د کيفيت د لوړولو د مرکز، د ماسترۍ او دوکتورا د برنامو د رئيسانو او د علمي مجلود آمريت بستونه.

**۳- شلمه ماده:**

(۲) د لوړو زده کړو د مؤسسې رئيس دماسترۍ يا دوکتورا د تحصيلی سند او لږتر لږه د پنځو کلونو کاري تجربې لرونکو د استاذانو او د استاذانودمرستيال له منځه د لوړو زده کړو د وزير په وړانديز او د جمهور رئيس په منظورۍ د پنځو کلونو مودې لپاره ټاکل کېږي.

امکانات ورزشی، مرکز تکنالوژی معلوماتی و حداقل یک برنامۀ ماستری و یا بالاتر از آن را دارا می‌باشد.

**۲- مادۀ دوازدهم:**

۳- بست های ریاست و معاونین علمی و محصلان.

۵- بست های مسئولان ادارات مرکز انسجام تحقیقات علمی، رؤسای شفاخانه‌های کادری مؤسسات تحصیلات عالی، انسجام امور استادان، مراکز علمی، مرکز ارتقای کیفیت، برنامه‌های ماستری و دوکتورا و آمریت مجله‌های علمی.

**۳- مادۀ بیستم:**

(۲) رئیس مؤسسۀ تحصیلات عالی از میان استادان و معاون استادان دارای سند تحصیلی ماستری یا دوکتورا و تجربۀ کاری حداقل پنج سال به پیشنهاد وزیر تحصیلات عالی و منظوری رئیس جمهور برای مدت پنج سال تعیین می‌گردد.

**۴- څلېريشتمه ماده:**

د پوهنځی رئیس د ماستری یا دوکتورا د تحصیلی سند او لږترلږه د پنځو کلونو کاري تجربې لرونکو استاذانو او د استاذانو مرستیال له منځه د لوړو زده‌کړو د وزیر په وړاندیز او د جمهور رئیس په منظورۍ د پنځو کلونو مودې لپاره ټاکل کېږي.

**۵- شپږدېرشمه ماده:**

(۳) د پوهاند دعلمي رتبې لرونکی استاذ ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو دندو او واکونو سربېره، په کال کې د یوه علمي کنفرانس په ورکولو او په بین المللي خپرونو کې د یوې مقالې یا په معتبرو کورنیو خپرونو کې د دوو مقالو په خپرولو مکلف دی.

**٦- اووه دېرشمه ماده:**

(۱) هغه شخص د پوهنیار په توګه منل کېږي، چې دلاندې شرایطو لرونکی وي:

۱- د دولتي لوړو زده کړو د مؤسسو له حضوري برنامې څخه د ماسترۍ د تحصیلي سند لرل. دهېواد د ننه خصوصي لوړو زده کړو د مؤسسې

**۴- مادهٔ بیست و چهارم:**

رئیس پوهنځی ازمیان استادان و معاون استادان دارای سند تحصیلی ماستری یا دوکتورا و تجربهٔ کاری حداقل پنج سال به پیشنهاد وزیر تحصیلات عالی و منظوری رئیس جمهور برای مدت پنج سال تعیین می‌گردد.

**۵- مادهٔ سی و ششم:**

(۳) استاد دارای رتبهٔ علمی پوهاند علاوه بر وظایف و صلاحیت‌های مندرج فقرهٔ (۲) این ماده، مکلف به ایراد یک کنفرانس علمی و نشر یک مقاله در نشریه های معتبر بین المللی و یا دو مقاله در نشریهٔ معتبر داخلی در سال می‌باشد.

**٦- مادهٔ سی و هفتم:**

(۱) شخصی به حیث پوهنیار پذیرفته می شود، که واجد شرایط ذیل باشد:

۱- داشتن سند تحصیلی ماستری از برنامهٔ حضوری مؤسسات تحصیلات عالی دولتی. اسناد تحصیلی ماستری فارغان مؤسسهٔ تحصیلات عالی

د فارغانو د ماسترۍ تحصیلي سندونه، هغه وخت منل کېږي چې نوموړې مؤسسه د لوړوزده کړو له وزارت څخه اکاډمیک اعتبار ترلاسه کړی وي.

۲- د لوړو زده‌کړو له دولتي مؤسسو څخه د DMD، PharMD، MD او DVM تحصیلي سند لرل. له هېواده بهر د خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسي له حضوري برنامې څخه نوموړي سندونه، هغه وخت منل کېږي چې نوموړې مؤسسه په اړوند هېواد کې د اکاډمیک اعتبار لرونکې وي.

۳- له پنځه دېرشو(۳۵) کلونو څخه د سن نه زیاتوالی.

۴- له بین‌المللي معتبرې ژبو څخه په یوې کې له ازموینې څخه د بریالیتوب د سند وړاندې کول.

۵-له اړوندې لایحې سره سم، دشاملېدو د بریالۍ ازموینې تېرول.

٦- له اړوندې لایحې سره سم، د استاذانو او ژوري هیئت په محضر کې د علمي کنفرانس بریالي وړاندې کول.

۷- د ماسترۍ د تحصیلي دورې د نمرو

خصوصی داخل کشور زمانی پذیرفته می شود، که مؤسسهٔ مذکور اعتبار اکادمیک را از وزارت تحصیلات عالی کسب نموده باشد.

۲- داشتن سند تحصیلی, DMD، PharmD, MD و DVM از مؤسسات تحصیلات عالی دولتی. اسناد مذکور از برنامهٔ حضوری مؤسسهٔ تحصیلی خصوصی از خارج کشور زمانی پذیرفته می‌شود که مؤسسهٔ مذکور دارای اعتبار اکادمیک در کشور مربوط باشد.

۳- عدم تجاوز سن از سی و پنج (۳۵) سال.

۴- ارایهٔ سند مؤفقیت از امتحان در یکی از زبان‌های معتبر بین‌المللی.

۵- سپری نمودن مؤفقانهٔ امتحان شمول، طبق لایحهٔ مربوط.

٦- ارایهٔ مؤفقانهٔ کنفرانس علمی در محضر استادان و هیئت ژوری طبق لایحهٔ مربوط.

۷- داشتن حداقل هشتاد (۸۰) فیصد

د اوسط لږ تر لږه د اتیا(۸۰) سلنې او د لېسانس د تحصیلي دورې دنمرو د اوسط لږ تر لږه د پنځه اویا (۷۵) سلنې لرل او د هېواد دننه د زده‌کړې په بهیر کې له یو ځل څخه زیات نه مشروط والی.

له هېواده بهر د لوړو زده کړو د مؤسسو د فارغانو لپاره، د نمرو د ټاکل شوې سلنې د نه بشپړوالي په صورت کې، د ماسترۍ او لېسانس په سویو کې د داوطلب دنمرو اوسط باید د اړوند هېواد له معیارونو سره د (Grade B) یا له هغې څخه د لوړې لرونکی وي او د زده کړې په بهیر کې له یو ځل څخه زیات مشروط نه وي.

۸- په اخلاقي جرمونو او جنایت نه محکومیت.

۹-د جسماني او رواني روغتیا او سلامت لرل.

۱۰- په نورو ادارو او مراجعو کې نه بوختیا.

(۲) د علمي کادر غړو د مقررېدو په وخت کې د ماسترۍ د تحصیلي سند پر وړاندې د دوکتورا د تحصیلي سند او د

اوسط نمرات دورهٔ تحصیل ماستری و حداقل هفتاد و پنج (۷۵) فیصد اوسط نمرات دورهٔ تحصیل لیسانس و بیش از یک مرتبه مشروط نبودن در جریان تحصیل در داخل کشور.

برای فارغان مؤسسات تحصیلات عالی خارج از کشور، درصورت عدم تکمیل فیصدی تعیین شدهٔ نمرات، اوسط نمرات داوطلب در سویه‌های ماستری و لیسانس باید به معیارهای کشور مربوط، حایز (Grade B) یا بالاتر از آن بوده و بیش از یک مرتبه در جریان تحصیل مشروط نباشد.

۸- عدم محکومیت به جرایم اخلاقی و جنایت.

۹- داشتن صحت و سلامت جسمانی و روانی.

۱۰- نداشتن مصروفیت درسایر ادارات و مراجع.

(۲) حین تقرر اعضای کادر علمی به کاندیدان دارای سند تحصیلی دوکتورا در برابر سند تحصیلی ماستری

لېسانس د تحصيلي سند پر وړانــدې د ماستری تحصيلي سند لرونکو نومانـــدانو ته د لومړيتوب حق ورکول کېږي.

(۳) د لېسانس د تحصيلي سند لرونکـــي اشخاص په هغه صورت کې پـــه علمـــي کادر کې مقررېدای شي چې په پـــام وړ بست کې د مقررېدو لپاره د دوکتورا او يا ماستری د ســـند لرونکـــي نومانـــدان موجود نه وي. د لېسانس د سند لرونکي اشخاص يواځې کولای شي د دې تعديل د انفاذ له اعتباره، د پنځو کلونو مـــودې لپاره د علمي کادر په توګه جذب شي.

(۴) د دې مادې په (۳) فقره کـــې درج شوي اشخاص د نمرو د اوسط د لږترلږهٔ پنځه اويا(۷۵)سلنې په لرلو او د زده‌کړې په دوره کې له يو ځل څخـــه زيـــات د مشروطی په نه لرلو سره دپوهنيار دنوماند په توګه مقررېدای شي.دپوهنيار دنوماندی دوره زيات نه زياته شپږ کاله ده.

(۵) پوهنيار نوماند، د پوهنيـــار دعلمـــي رتبې د معاش د پنځه اويا (۷۵) ســـلنې مستحق دی.

(٦)پوهنيار نوماند، د ماستری د تحصيلي

و سند تحصيلی ماستری در برابر ســـند تحصيلی ليســـانس حـــق اوليـــت داده می‌شود.

(۳) اشـــخاص دارای ســـند تحصـــيلی ليســـانس در صـــورتی در کـــادرعلمی مقرر شده می‌تواننـــد کـــه کانديـــدان دارای سند دوکتورا و يا ماستری بـــرای تقرر در بست مورد نظر موجود نباشد. اشخاص دارای سند ليســـانس صـــرف برای مدت پنج سال می‌توانند به عنوان کادر علمی اعتبار از انفاذ ايـــن تعـــديل جذب گردند.

(۴) اشخاص مندرج فقـــرهٔ (۳) ايـــن ماده با داشتن حداقل هفتاد و پنج (۷۵) فيصد اوسط نمرات و نداشتن بـــيش از يک مرتبه مشروطی در جريان تحصـــيل به حيث نامزد پوهنيـــار مقـــرر شـــده می‌توانند. دورهٔ نامزدی پوهنيار حداکثر شش سال می‌باشد.

(۵) نامزد پوهنيار مستحق هفتاد و پـــنج (۷۵) فيصد معاش رتبهٔ علمی پوهنيـــار می‌باشد.

(٦) نامزد پوهنيار بعد از اخـــذ ســـند

سند له اخیستلو او دهغه دقانوني پړاوونو له تېرولو وروسته د پوهنیارعلمي رتبې ته لوړېږي.

**۷- پنځوسمه ماده:**

(۱) دلوړو زده کړوپه مؤسسوکې دعلمي کادر غړی، د پنځه شپېته(۶۵) کلنۍ سن له بشپړولو وروسته تقاعد کېږي.

(۲) که چېرې د علمي کادر متقاعد غړی د تدریس بشپړه فزیکي او فکري توانمني ولري، د اړوند پوهنځي د علمي شوري په وړاندیز، د لوړو زده کړو د وزارت په تأیید او د جمهور رئیس په منظورۍ، په کلني ډول، د پنځو کلونو مودې لپاره، په لاندې حالاتو کې بالمقطع قرارداد عقد کېدلای شي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د فوق لېسانس په برنامو کې د شرایطو لرونکی استاذ موجود نه وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د لېسانس په برنامو کې د مضمون د تدریس لپاره، د لږترلږهٔ ماسترۍ تحصیلي سند او یا دپوهنمل دعلمي رتبې لرونکی استاذ موجود نه وي.

تحصیلی ماستری و طی مراحل قانونی آن به رتبهٔ علمی پوهنیار ارتقاء می‌نماید.

**۷- مادهٔ پنجاهم:**

(۱) عضو کادر علمی در مؤسسات تحصیلات عالی بعداز اکمال سن شصت و پنج (۶۵) سالگی متقاعد می‌گردد.

(۲) هرگاه عضو کادر علمی متقاعد، توانائی کامل فزیکی و فکری تدریس را داشته باشد به پیشنهاد شورای علمی پوهنځی مربوط، تائید وزارت تحصیلات عالی ومنظوری رئیس جمهور طور سالانه، برای مدت پنج سال در حالات ذیل قرارداد بالمقطع عقد شده می‌تواند:

۱- درصورتیکه در برنامه های فوق لیسانس استاد واجد شرایط موجود نباشد.

۲-درصورتیکه در برنامه های لیسانس برای تدریس مضمون، استاد دارای حداقل سند تحصیلی ماستری و یا رتبهٔ علمی پوهنمل موجود نباشد.

**۸– نهه شپېتمه ماده :**

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شووشرایطو لرونکی دپوهیالي علمي رتبې لرونکی‌داستاذ مرستیال مکلف دی، ترڅو د خپلو دوو دورو ترفیع ګانو په ترڅ کې د ماسترۍ برنامې ته شامل شـي.په دې موده کې د پوهنیار دعلمي رتبې د پنځـه اویا (۷۵) سلنې معاش مستحق دی.

**دوه یمه ماده:**

د ملکي لوړوزده کـړو د قـانون پـه دوه‌یمه ماده کې(۷) جزء او پـه شـپږ څلوېښتمه ماده کې (۳، ۴، ۵، ٦ او ۷) فقرې دې په لاندې ډول ایزاد شي:

**۱– دوه یمه ماده:**

۷– په هېواد کې د اقتصادي، ټـولنیز او فرهنګي پرمختګ په منظور د علومـو او تکنالوژۍ په برخوکې د علمـي څېړنـو پیاوړتیا.

**۲– شپږڅلوېښتمه ماده:**

(۳) دعلمي کادرغړی ددې قـانون پـه پنځه څلوېښتمه ماده کې او ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج د علمي رتبې د ترفیع د شرطونو سـربېره مکلـف دی،

**۸– مادۀ شصت ونهم:**

(۲) معـاون اسـتاد دارای رتبـۀ علمی پوهیالی واجد شـرایط منـدرج فقرۀ (۱) این ماده مکلف است، تا طی دو دوره ترفیعات علمی خویش شـامل برنامۀ ماستری گردد. در ایـن مـدت مستحق هفتاد و پنج (۷۵) فیصد معاش رتبۀ علمی پوهنیار می‌باشد.

**مادۀ دوم:**

جزء ۷ در مـادۀ دوم و فقـره‌هـای ( ۳، ۴، ۵، ٦ و۷) در مـادۀ چهل و ششم قانون تحصـیلات عـالی ملکی ذیلاً ایزاد گردد:

**۱– مادۀ دوم:**

۷– تقویۀ تحقیقات علمی در سـاحات علوم و تکنالوژی به منظـور پیشـرفت اقتصـادی، اجتمـاعی و فرهنگـی در کشور.

**۲– مادۀ چهل و ششم:**

(۳) عضو کادر علمی علاوه بر شرایط ترفیـع رتبـۀ علمـی منـدرج مـادۀ چهل و پنجم این قانون و فقـره‌هـای (۱ و ۲) این ماده مکلف است، حد اقل

لېترلږه په هره علمي رتبه کې يو اړوند علمي- څېړنيز اثر له معتبر بين‌المللي خپرونو څخه په يوه کې خپور کړي.

(۴) ددې مادې په (۳) فقره کې درج خپورشوی علمي اثر، د کورنيو خپروشوو دوو اثرونو سره محاسبه کېږي.

(۵)دعلمي کادر هغه غړی چې د پوهاند علمي رتبې ته ترفيع کوي، بايد د دوکتورا(PHD)د تحصيلي سند لرونکی وي.

(٦) ددې مادې په (۳، ۴ او ۵) فقرو کې درج شوي شرطونه ددې تعديل او ايزاد د انفاذ له نېټې څخه دوه کاله وروسته د تطبيق وړدي.

(۷) د پوهاند په سويه دعلمي کادر دغړو له کلنيو فعاليتونو څخه څارنه د علمي مرستيالۍ له لوري صورت مومي.

**درېيمه ماده:**

د ملکي لوړوزده‌کړوقانون د درې څلوېښتمې مادې (۳) فقره دې حذف شي.

**څلورمه ماده:**

دغه تعديل، ايزاد او حذف د توشېح له

درهر رتبۀ علمی يک اثر علمی- تحقيقی مربوط را در يکی از نشريه های معتبر بين‌المللی به نشر برساند.

(۴) اثر علمی نشرشدۀ مندرج فقرۀ (۳) اين ماده معادل دو اثر نشر شدۀ داخلی محاسبه می‌گردد.

(۵)اعضای کادر علمی که به رتبۀ علمی پوهاند ترفيع می‌نمايند بايد دارای سند تحصيلی دوکتورا (PHD) باشند.

(٦) شرايط مندرج فقره های (۳، ۴ و ۵) اين ماده بعد از دو سال از تاريخ انفاذ اين تعديل و ايزاد قابل تطبيق می‌باشد.

(۷) نظارت از فعاليت های سالانۀ اعضای کادر علمی به سويۀ پوهاند از جانب معاونيت علمی صورت می‌گيرد.

**مادۀ سوم:**

فقرۀ (۳) مادۀ چهل و سوم قانون تحصيلات عالی ملکی حذف گردد.

**مادۀ چهارم:**

اين تعديل، ايزاد و حذف از تاريخ

نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کــې خپرېږي.

توشيح نافذ و درجريدۀ رســمی نشــر می‌گردد.

د افغانستان اسلامي جمهوريت

دعدلیې وزارت

# رسمي جريده

## فوق العاده گڼه

- اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون
- د ملکي لوړو زده کړو د قانون د ځینو مادو تعدیل او ایزاد

- قانون دسترسی به اطلاعات
- تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی

دخپرېدو نېټه: د۱۳۹۷ هـ .ش کال د وري دمیاشتې (۱۱)

پرله پسې نمبر: (۱۲۹۷)

تاریخ نشر: (۱۱) حمل سال ۱۳۹۷ هـ . ش

نمبر مسلسل: (۱۲۹۷)

**د امتیـــاز خاوند:** د عدلیـــې وزارت

**مسئول چلوونکی:** قانونمل محمدرحیم "دقیق"

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

**د دفتر تیلفون:** ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹

**مرستیـــال:** نورعلم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

**مهتمـــم:** محمد جان ۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲

**وب سایت:** www.moj.gov.af

**قیمت این شماره:** (۲۴,٦۴) افغانی

**تیراژ چاپ:** (۳۰۰۰) جلد

**تعداد صفحات به شمول پشتی:** (۸۸) صفحه

**مطبعه:** بهیـــر

**آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، چهارراهی پشتونستان، کابل**

د افغانستان اسلامی جمهوریت – جمهوری اسلامی افغانستان
سال ۱۳۹۶
شماره: ۲۵۷
ریاست دفتر
تاریخ: ۱۳۹۶/۱۲/[illegible]
آمریت ثبت احکام و فرامین

# فرمان تقنینی

## رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## در مورد توشیح تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی

**مادۀ اول:**

به تأسی از احکام جزء (۱۶) مادۀ شصت وچهارم و مادۀ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، طرح تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۹) مؤرخ ۱۳۹۶/۱۲/۱۲ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۳) ماده تصویب گردیده است، توشیح میدارم.

**مادۀ دوم:**

وزیر عدلیه و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، تعدیل یاد شده و این فرمان را در خلال مدت (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسۀ شورای ملی به آن شورا تقدیم نمایند.

**مادۀ سوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبۀ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان و متن تعدیل و ایزاد مذکور در جریدۀ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

د افغانستان اسلامی جمهوریت — جمهوری اسلامی افغانستان

دعدلیې وزارت — وزارت عدلیه

ریاست عمومی انستیتوت امور قانونگذاری و تحقیقات علمی- حقوقی

ریاست دیپارتمنت قوانین تعلیمی، فرهنگی و صحت

مدیریت اسناد و ارتباط

شماره: ( ۴۸ )

تاریخ: ۱۳۹۷/۱/۷

**به وزارت محترم تحصیلات عالی!**

**قابل توجهٔ ریاست دفتر:**

طوریکه درجریان قراردارید تعدیل و ایزاد برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی به اساس فرمان تقنینی شماره (۲۵۷) مؤرخ ۱۳۹۶/۱۲/۱۲ رئیس جمهوری اسلامی افغانستان توشیح گردیده است. اینک یک کاپی از تعدیل و ایزاد برخی از مواد قانون مذکور غرض اجراآت به ضمیمه ارسال است که عنقریب درجریدهٔ رسمی نشرخواهد شد.

با احترام

داکتر عبدالبصیر انوار

وزیرعدلیه

**د ملکي لوړو زده کړو د قانون د ځينو مادو د تعديل او ايزاد د توشېح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس تقنيني فرمان**

**ګڼه:(۲۵۷)**

**نېټه: ۱۳۹٦/۱۲/۱۲**

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د څلورشپېتمې مادې د ۱٦ جزء او د نهه اويايمې مادې د حکمونو له مخې د ملکي لوړو زده کړو د قانون د ځينو مادو تعديل او ايزاد چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۲/۱۲/ ۱۳۹٦ نېټې (۱۹) ګڼه مصوبې پر بنسټ د (۳) مادو په دننه کې تصويب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

د عدليې وزير او په پارلماني چارو کې د دولت وزير مکلف دي، نوموړی تعديل او دغه فرمان د ملي شوري د

**فرمان تقنینی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی**

**شماره :(۲۵۷)**

**تاریخ : ۱۳۹٦/۱۲/۱۲**

**مادۀ اول:**

به تأسی از احکام جزء ۱٦ مادۀ شصت و چهارم و مادۀ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، تعدیل برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۹) مؤرخ ۱۳۹٦/۱۲/۱۲ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۳) ماده تصویب گردیده است، توشیح می‌دارم.

**مادۀ دوم:**

وزیر عدلیه و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، تعدیل یاد شده و این فرمان را در خلال مدت (۳۰)

لومړنۍ غونډې له جوړېدو څخـــه د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې هغې شورې ته وړاندې کړي.

**درېيمه ماده:**

دغــه فرمـــان د توشـــيح لـــه نېټـــې څخه نافذ او د افغانســـتان اســـلامي جمهوريت د کابينې له مصـــوبې او د نومورې تعديل او ايزاد له مـــتن ســـره يوځای دې، په رسمي جريده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**
**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

روز از تاريخ انعقاد نخستين جلسهٔ شورای ملـــــی، به آن شورا تقديم نمايند.

**مادهٔ سوم:**

ايـــن فرمـــان از تـــاريخ توشـــيح نافذ و همراه بـــا مصـــوبهٔ کابينـــهٔ جمهـــوری اســـلامی افغانســـتان و مـــتن تعـــديل و ايـــزاد مـــذکور، در جريـــــدهٔ رســـــمی نشـــــر گردد.

**محمد اشرف غنی**
**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د ملکي لوړو زده کړو د قانون د ځينو مادو د تعديل او ايزاد د طرحې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې مصوبه

گڼه: (۱۹)
نېټه: ۱۳۹۶/۱۲/۱۲

د افغانستان د اساسي قانون د نهه اويايمې مادې د حکم له مخې، د ملکي لوړو زده کړو د قانون د ځينو مادو د تعديل او ايزاد طرحه د افغانستان اسلامي جمهوريت دکابينې د ۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹۶نېټې په غونډه کې د (۳) مادو په دننه کې تصويب شوه.

محمد اشرف غني
د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی

شماره: (۱۹)
تاریخ: ۱۳۹۶/۱۲/۱۲

به تأسی از حکم مادهٔ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، طرح تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی به داخل (۳) ماده در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۶/۱۲/۱۲ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردید.

محمد اشرف غنی
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## د ملکي لوړو زده کړو د قانون د ځینو مادو تعدیل او ایزاد

لومړۍ ماده:

د ۱۳۹۴ کال په (۱۱۹۵) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د ملکي لوړو زده کړو د قانون د څلورمې مادې ۲جزء، د شپږمې مادې ۴ جزء، دوولسمه، څوارلسمه، نهه ویشتمه، شپږدېرشمه، اووه دېرشمه، اته دېرشمه، یوڅلوېښتمه، دري څلوېښتمه، پنځه څلوېښتمه، شپږڅلوېښتمه، نهه څلوېښتمه، یوپنځوسمه او نهه شپېتمه مادې او د ۱۳۹٦ کال په (۱۲٦۵) ګڼه رسمي جریده کې خپاره شوې د نومړي قانون د ځینو مادو تعدیل، ایزاد اوحذف دې په لاندې ډول تعدیل شي:

**د لوړو زده کړو د وزارت دندې او مکلفیتونه**

۱- څلورمه ماده:

۲- د تقنیني سندونو له حکمونو سره

## تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی

مادهٔ اول:

جزء ۲ مادهٔ چهارم، جزء ۴ مادهٔ ششم، مواد دوازدهم، چهاردهم، بیست و نهم، سی و ششم، سی و هفتم، سی و هشتم، چهل و یکم، چهل و سوم، چهل و پنجم، چهل و ششم، چهل و نهم، پنجاه ویکم و شصت و نهم قانون تحصیلات عالی ملکی منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۱۱۹۵) سال ۱۳۹۴ و تعدیل، ایزاد و حذف برخی از مواد قانون مذکور منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۱۲٦۵) سال ۱۳۹٦ذیلاً تعدیل گردد:

**وظایف و مکلفیت های وزارت تحصیلات عالی**

۱- مادهٔ چهارم:

۲- صدور جواز تأسیس مؤسسهٔ

سم کورنيو او بهرنيو حقيقي او حکمي اشخاصو ته د خصوصي لوړو زده کړو د مؤسسې د تأسيس د جواز صادرول او د هغه لغو کول.

**د عـــالي شـــوري دنـــدې او واکونه**

**۲- شپږمه ماده:**

۴- د لوړو زده کـــړو د مؤسســـو، پوهنځيو او ديپـــارتمنتونو د تأســـيس، پراختيا، تجزيې، الحاق، ادغام يا د لغو کولو د وړانديز تأييد.

**اکاډميک بستونه**

**۳- دوولسمه ماده:**

د لوړو زده کړو پـــه مؤسســـه کـــې اکاډميک بستونه:

۱- د علمي کادر د غړو اکاډميـــک بست.

۲- د تحصيلي مؤسسې د رياســـت او معاونيتونو علمي او محصلانو بستونه.

۳- د پوهنځيو د رياستونو او معاونيتونو بستونه.

۴- د ديپــــارتمنتونو د آمريتونـــــو

تحصـــيلات عـــالی خصوصـــی بـــه اشخاص حقيقی و حکمی داخلـــی و خـــــارجی و الغـــــای آن مطـــــابق احکام اسناد تقنينی.

**وظايف و صلاحيت های شـــورای عالی**

**۲- مادۀ ششم:**

۴- تائيد پيشنهاد تأســـيس، توســـعه، تجزيه، الحـــاق، ادغـــام يـــا الغـــای مؤسسات تحصيلات عالی، پوهنځی ها و ديپارتمنت ها.

**بست های اکادميک**

**۳- مادۀ دوازدهم:**

بست های اکادميـــک در مؤسســـۀ تحصيلات عالی:

۱- بست اکادميک اعضـــای کـــادر علمی.

۲- بست های رياست و معاونيت های علمی و محصلان مؤسسۀ تحصيلی.

۳- بست های رياست ها و معاونيت های پوهنځی ها.

۴- بســـت هـــای آمريـــت هـــای

بستونه.

۵- د علمي څېړنو د سمون د مرکز د ادارو د مسؤولانو، د لوړو زده کــړو مؤسسو د کادري روغتونونه د استادانو د چارو د سمون، علمي او فرهنگــي مرکزونو، د کیفیت د لوړولو د مرکز، د ماستري او دوکتورا د برنامو رئیسانو او د علمي مجلو د آمریت بستونه.

## د درسي نصاب تطبیق

۴- څوارلسمه ماده:

د لوړو زده کړو مؤسسه، خپل درسي نصاب د دیپارتمنت لـــه پرېکـــړې، د پوهنځي د علمي شوري او د اړونـــدې مؤسسې د علمي شوري له تأییـــد او د لوړو زده کړو وزارت د علمي چارو د معینیت له منظورۍ وروسته، تطبیقوي.

## دیپارتمنت

۵- نهه ویشتمه ماده:

(۱) دیپارتمنت، آمر او د علمي کادر غړي لري. د دیپارتمنت آمر د علمـــي کادر له غړو څخه چې لـــږ ترلـــږه د پوهنمل علمـــي رتبـــه او د ماســـترۍ

دیپارتمنت ها.

۵- بست های مسؤولان ادارات مرکز انسجام تحقیقات علمـــی، رؤســـای شفاخانه هـــای کـــادری مؤسســـات تحصیلات عالی، انسجام امور استادان، مراکز علمی و فرهنگی، مرکز ارتقای کیفیت، برنامه های ماستری و دوکتورا و آمریت مجله های علمی.

## تطبیق نصاب درسی

۴- مادۀ چهاردهم:

مؤسسۀ تحصیلات عالی، نصاب درسی خود را بعد از فیصلۀ دیپارتمنت، تائید شورای علمی پوهنځی، شورای علمی مؤسسۀ مربوط و منظوری معینیت امور علمی وزارت تحصیلات عالی، تطبیق می نماید.

## دیپارتمنت

۵- مادۀ بیست و نهم:

(۱) دیپارتمنت، دارای آمر و اعضای کادر علمی می باشد. آمر دیپارتمنت از میان اعضای کادر علمی که دارای رتبۀ علمی حداقل پوهنمل و سند تحصیلی

تحصیلي سند ولري، په آزاد، سري او مستقیم ډول د دریو کلونو مودې لپاره انتخابېږي او یوازې د یوې بلې دورې لپاره کاندیدېدای شي.

(۲) که چېرې د دغې مادې په (۱) فقره کې د درج شویو شرطونو لرونکي د علمي کادر غړي چه دیپارتمنت کې موجود نه وي. د دیپارتمنت آمر د پوهنیار د علمي رتبې د لرونکو علمي کادر له غړو څخه انتخابېږي.

## د علمي‌کادر د غړو دندې او واکونه

**۶- شپږ دېرشمه ماده:**

(۱) د علمي کادر غړي (د استاد مرستیال) دغه دندې او واکونه لري:

۱- د استاد تر نظر لاندې په لوست ورکولو کې ګډون.

۲- د تطبیقاتو، تمرینونو او د عملي کارونو د اجراء کولو لارښوونه.

۳- د مونوګرافونو، د دیپلوم د پروژو، سیمینارونو او د علمي کنفرانسونو په

ماستری باشد، به صورت آزاد، سری و مستقیم برای مدت سه سال انتخاب می‌گردد و صرف برای یک دورهٔ دیگر کاندید شده می تواند.

(۲) هرگاه عضو کادر علمی دارای شرایط مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در دیپارتمنت موجود نباشد. آمر دیپارتمنت از جملهٔ اعضای کادر علمی دارای رتبهٔ علمی پوهنیار انتخاب می‌گردد.

## وظایف و صلاحیت های اعضای کادر علمی

**۶- مادهٔ سی و ششم:**

(۱) اعضای کادر علمی (معاون استاد) دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشند:

۱- اشتراک در تدریس تحت نظر استاد.

۲- رهنمایی تطبیقات، تمرینات و اجرای کار های عملی.

۳- رهنمایی محصلان در تهیهٔ مونوگراف ها، پروژه های دیپلوم،

برابرولو کې د محصلانو لارښوونه.
۴- په کمېټو کــې فعال گـــډون په اکاډميکي چارو او د اړونده پوهنځي او تحصيلي مؤسسې د خدمتونو د وړاندې کولو په چارو کې ونډه اخيستنه.
